# خاصیات الابواب

## پښتو

تالیف: استاد الصرف
مولانا رشید احمد سواتی

ناشر: کتب خانه فیضی

ویب سائٹ: مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

# خاصیات ابواب

تالیف

استاد الصرف

مولانا رشید احمد سواتی
مدرس جامعه بنوریه سائټ کراچی نمبر۱۶

پښتو مترجم

مولانا عبدالرحمن فیضانی
استاذ جامعه سعدین نحقی و خرکی

ناشر

فیضی کتب خانه محله جنګی پشاور

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

## خاصیات ابواب

**د خاصیت تعریف :** . د خاصیت لغوی معنی ده خاص کیدل.

**اصطلاحی تعریف :** . د صرفیانو په اصطلاح کښې خاصیت هغه معانیو ته وئیلے کیږی چې هغه د باب د لغوی معنی نه زائد وی خو لیکن د لغوی معنی سره لازم وی.

لکه إِخْرَاجٌ دا د باب افعال نه دے ددے لغوی معنی ده یو شخص یا څۀ څیز د څۀ نه ویستل او إِدْخَالٌ ددے لغوی معنی ده یو شخص په څۀ کښې داخلول ، اوس دے دواړو کښې دے لغوی معنو سره سره د تعدیے (یعنی د متعدی جوړیدلو) معنی هم موندلے کیږی (یعنی د تعدیے خاصیت دلته موجود دے) او د تعدیے معانی د لغوی معنو نه علاوه دی ځکه چې د إِخْرَاجٌ او إِدْخَالٌ مفهوم جدا دے او د تعدیے مفهوم جدا دے ، او ددے باوجود هم إِخْرَاجٌ او إِدْخَالٌ داسے کلمات د تعدیے نه بغیر نۀ موندلے کیږی دے سره تعدیه (یعنی متعدی کیدل) لازم دی.

**سوال :** . په خاصه او خاصیت کښې څۀ فرق شته خو نا دواړه په یو معنی دی ؟

**جواب :** . بعض صرفی حضرات وائی چې خاصه او خاصیت په یو معنی دی په دے کښې څۀ فرق نشته . البته بعض صرفی علماء په دے دواړو کښې فرق کوی چې د خاصیت تعریف خو هغه دے کوم چې مخکښې تیر شو (یعنی هغه زائد معنی چې هغه د لغوی معنی نه علاوه وی خو لیکن د لغوی معنی سره لازم وی).

او د خاصه تعریف دا دے چې مَا يَخْتَصُّ بِالشَّيْءِ وَلَا يُوْجَدُ فِيْ غَيْرِهٖ یعنی چې دا د یو څیز سره خاص وی او د هغے نه علاوه په بل څۀ څیز کښې اونۀ موندلے شی لکه عِلْمٌ او كِتَابَتْ صرف د انسان خاصه ده.

**اعتراض :** . کوم صرفیان حضرات چې په خاصه او خاصیت کښې فرق نۀ کوی بلکه دا دواړه په یو معنی ګڼړی په هغوی باندے اعتراض راځی چې ستاسو خاصه او خاصیت ته په یو معنی وئیل صحیح نۀ دی ځکه چې خاص خو د ذی الخاصه نه علاوه په بل څۀ کښې نۀ موندلے کیږی لکه څنګه چې د هغے په تعریف کښې دَا يُوْجَدُ فِيْ غَيْرِهٖ قید نه معلومیږی حالانکه د یو باب خاصیت په بل باب کښې هم موندلے کیږی مثلاً تعدیه د باب افعال خاصیت دے لیکن په باب تفعیل کښې هم دا خاصیت موندلے کیږی نو ددے نبکار معلومیږی چې په خاصه او خاصیت

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې فرق دے دواړه جدا جدا څیزونه دی۔

**جواب** :.. د هغوی د طرف نه دا ورکړے شوے دے چې مونږ د خاصے تعریف په مَا یَخْتَصُّ بِالشَّیْءِ وَلَا یُوْجَدُ فِیْ غَیْرِهٖ سره نهٔ کوو دا خو د نحویانو اصطلاح ده او دا دلته نهٔ ده مراد، زمونږ په نزد خو د خاصے تعریف هم هغه دے کوم تعریف چې د خاصیت دے یعنې د اصلي معنی نه علاوه داسے زائد معنی چې هغه د باب اصل معنی سره لازم او خاص وی۔

**دویم جواب** :.. دا دے چې صحیح ده مونږ درسره منو چې د خاصے تعریف مَا یَخْتَصُّ بِالشَّیْءِ وَلَا یُوْجَدُ فِیْ غَیْرِهٖ دے، خو دا تعریف په دوو جزئو باندے مشتمل دے (۱) جزء ایجابی یعنې مَا یَخْتَصُّ بِالشَّیْءِ (۲) جزء سلبی یعنې وَلَا یُوْجَدُ فِیْ غَیْرِهٖ، نو دلته صرف جزء ایجابی مراد دے یعنې مَا یَخْتَصُّ بِالشَّیْءِ جزء سلبی نهٔ دے مراد، نو لهذا د یو باب خاصیت په بل باب کښې موندلے کیدل خاصه کیدلو سره منافی نهٔ دی۔

## د ثلاثي مجرد بابونو خاصیات :

د ثلاثی مجرد شپږو بابونو نه نَصَرَ، ضَرَبَ، سَمِعَ دے دریو بابونو ته اُمُّ الْاَبْوَابِ او اصول ابواب وئیلے کیږی یعنې د بابونو اصل او بنیاد۔

**سوال** :.. دے دریو بابونو ته ام الابواب او اصول ابواب ولے وئیلے کیږی ددے وجه تسمیه څهٔ ده ؟

**جواب** :.. اصل خبره دا دے چې کله معنی خپلو کښې مختلف وی نو د هغے الفاظ هم مختلف کیدل پکار وی او دے دریواړو کښې څنګه چې د فعل ماضی او مضارع معنی مختلف راځی نو هم دغه شان د فعل ماضی د عین کلمے حرکت د مضارع د عین کلمے د حرکت نه مختلف راځی لهذا دا دریواړه مذکوره بابونه د اصل مطابق دی، البته ددے نه علاوه باقی دریو بابونو کښې ماضی او مضارع د دواړو د عین کلمے حرکت یو راځی مختلف کیږی نه لکه فَتَحَ یَفْتَحُ کښې ماضی مضارع دواړه مفتوح العین راځی او حَسِبَ یَحْسِبُ کښې دواړه مکسور العین راځی او کَرُمَ یَکْرُمُ کښې دواړه مضموم العین راځی دے وجے نه دے ته فروع ابواب وئیلے کیږی چې د معنی د مختلف کیدلو باوجود هم د ماضی او مضارع الفاظ مختلف نهٔ دی چې دا خلاف اصل دے۔

### (۱) د باب نَصَرَ خاصیت :

ددے باب مشهور خاصیت مغالبه ده

**د مغالبے لغوی معنی** :.. په چا باندے د غالب راتلو کوشش کول۔

**اصطلاحی تعریف** :.. د باب مفاعله نه پس یو فعل په دے غرض سره ذکر کول چې

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ددے په ذریعے سره د فریقینو نه د یو غالب راتلل ظاهر کړے شي.

نو ددے غلبے ظاهرولو د پاره چي د باب مفاعله نه پس کوم فعل ذکر کیږي هغه به د باب نَصَرَ نه وي اګر که دغه فعل د اصل وضع په اعتبار سره د بل باب نه وي د نَصَرَ نه نۀ وي لکه خَاصَمَنِيْ زَيْدٌ فَخَصَمْتُهٗ (زید ما سره جګړه اوکړه پس زۀ جګړه کښي په هغۀ باندے غالب راغلم) دغه شان يُضَارِبُنِيْ زَيْدٌ فَاَضْرُبُهٗ (په ضمے د راء سره) يعني ما او زيد يو بل وهل نو زۀ په وهلو کښي په هغۀ باندے غالب راغلم) نو ددے مذکوره دريوارو مثالونو کښي خَاصَمَ، يُخَاصِمُ او يُضَارِبُ د باب مفاعله نه دي ددے نه پس اول مثال کښي خَصَمْتُ، دويم مثال کښي اَخْصَمُ او دريم مثال کښي اَضْرَبُ افعال ذکر کړے شوے دي، ددے سره دا ښودل مقصود دي چي زيد او متکلم چي خپلو کښي په جنګ جګړو او وهلو ټکولو کښي مشغول وو نو ددے دوارو نه متکلم په زيد باندے غالب شوے دے. دلته اَخْصَمُ او اَضْرَبُ اګر چي د خپل اصل په اعتبار سره د ضَرَبَ يَضْرِبُ باب نه دي او په مضارع کښي عين کلمه مکسور ده (يعني اَخْصِمُ او اَضْرِبُ) خو ليکن د مغالبے د پاره دا د نَصَرَ يَنْصُرُ نه استعمال کړے شو (يعني په مضارع کښي عين کلمے ته ضمه ورکړے شوه).

اعتراض: .. تا اووئيل چي د غلبے د اظهار د پاره چي د باب مفاعله نه پس کوم فعل ذکر کيږي هغه به د باب نَصَرَ نه وي حالانکه لاندے مثالونو کښي خو دا فعل د نَصَرَ نه نۀ دے بلکه د ضَرَبَ نه دے لکه يُوَاعِدُنِيْ زَيْدٌ فَاَعِدُهٗ (زۀ او زيد دواړه خپلو کښي وعده کوو پس زۀ په وعده پوره کولو کښي غالب راځم) او يَاسَرَنِيْ فَاَيْسِرُهٗ (مونږ دواړه جواري کوو پس زۀ په دے کښي په هغۀ باندے غالب راځم) نو په دے دوارو مثالونو کښي اَعِدُ او اَيْسِرُ (په کسرے د عين سره) د ضَرَبَ نه دي، که د نَصَرَ نه وو نو بيا به په مضارع کښي عين کلمه مضموم راتله بيا به دا اَعُدُ او اَيْسُرُ راتلل خو ليکن داسے نۀ ده دا ولے؟

**جواب:** .. د باب مفاعله نه پس چي د اظهار غلبے د پاره کوم فعل ذکر کيږي هغه اکثر خو د نَصَرَ نه راځي، خو ليکن دا لاندے ذکر شوے صورتونه ددے نه مستثنی دي دے صورتونو کښي د مغالبے د پاره فعل د ضَرَبَ نه راځي د نَصَرَ نه نۀ راځي

(۱) مثال واوي (۲) مثال يائي (۳) اجوف يائي (۴) ناقص يائي، دے څلورو صورتونو کښي به د مغالبے د پاره فعل د ضَرَبَ نه راوړلے کيږي او تا چي کوم مثالونه ذکر کړے دي هغه ددے څلورو صورتونو نه دي چي اَعِدُ مثال واوي دے او اَيْسِرُ مثال يائي دے، او د اجوف يائي مثال لکه يُبَايِعُنِيْ زَيْدٌ فَاَبِيْعُهٗ او د ناقص يائي مثال لکه يُرَامِيْنِيْ فَاَرْمِيْهِ.

**سوال:** .. دے څلورو صورتونو کښي د مغالبے د پاره فعل د ضَرَبَ نه ولے راځي د نَصَرَ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نه ولے نۀ راځی ؟

**جواب :** .. دضَرَبَ نه دے وجے نه راځی چی د معتل دا څلور قسمونه د نَصَرَ نه نۀ استعمالیږی او د نَصَرَ طرف ته ددے منتقل کول د عربی لغت خلاف دی۔

**تنبیه :** دے صورتونو کښی اجوف او ناقص سره د یائی قید دے وجے نه اولګولے شو چی اجوف واوی او ناقص واوی د مغالبے د پاره د مخکښی په شان د نَصَرَ نه راځی د اجوف واوی مثال لکه یُخَاوِفُنِیْ فَاَخُوْفُهٗ او د ناقص واوی مثال لکه یُرَاضِیْنِیْ فَاَرْضُوْهٗ۔

## (۲) د باب ضَرَبَ خاصیت :..

ددے باب خاصیت هم مغالبه ده خو لیکن په دے کښی د مغالبے د پاره شرط دا دے چی د باب مفاعله نه پس کوم فعل ذکر کیږی هغه به د هفت اقسامو په اعتبار سره مثال واوی ، مثال یائی ، اجوف یائی یا ناقص یائی وی لکه یُبَایِعُنِیْ زَیْدٌ فَاَبِیْعُهٗ (زید ما سره اخستل خرڅول کوی خو زۀ په دے اخستلو خرڅولو کښی د هغۀ نه زیات شوم) دا د اجوف یائی مثال دے د څلورو واړو صورتونو مثالونه تیر شوے دی ددغه صورتونو نه علاوه باقی کښی د مغالبے د پاره فعل د نَصَرَ نه استعمالیږی لکه څنګه چی تیر شو۔

## (۳) د باب سَمِعَ خاصیت : ..

ددے باب خاصیت دا دے چی هغه الفاظ کوم چی بیماریٔ ، غم ، خوشحالیٔ ، د رنګ او عیب په معنی باندے یا جسمانی کیفیت باندے دلالت کوی هغه اکثر ددے سَمِعَ باب نه استعمالیږی لکه سَقِمَ سَقْمًا په معنی د بیمار کیدلو ، حَزِنَ حَزَنًا غمژن کیدل . فَرِحَ فَرَحًا خوشحاله کیدل ، سَوِدَ سَوَادًا تور کیدل ، عَوِرَ عَوَارًا کانړا کیدل ، د جسمانی کیفیت مثال لکه بَلِجَ بَلَجًا فراخه تندی والا کیدل ، عَیِنَ عَیْنَةً غټو سترګو والا کیدل ، دا باب زیاد تر لازم استعمالیږی او ډیر کم متعدی

استعمالیږی۔

## (۴) د باب فَتَحَ خاصیت :

ددے باب خاصیت لفظی راځی هغه دا چی ددے باب نه صرف هغه افعال راځی چی د هغے د عین یا لام کلمے په ځائے باندے حرف حلقی وی لکه ذَهَبَ یَذْهَبُ په دے کښی عین کلمه (یعنی هاء) حرف حلقی ده او وَضَعَ یَضَعُ په دے کښی لام کلمه (یعنی عین) حرف خلقی دے۔

**اعتراض :** رَکَنَ یَرْکَنُ او اَبٰی یَاْبٰی خو د فَتَحَ نه مستعمل دی خو لیکن په دے کښی خو د عین یا لام کلمے په ځاے باندے حرف حلقی نشته ؟

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : رَکَنَ یَرْکَنُ د تداخل د قبیلے نه دی هغه داسے چی رَکَنَ یَرْکَنُ د نَصَرَ نه هم استعمالیږی لکه رَکَنَ یَرْکُنُ ، او د سَمِعَ نه هم استعمالیږی لکه رَکِنَ یَرْکَنُ اوس کوم کس چی ددے دواړو لغتونو نه واقف وو هغه ماضی دنَصَرَ نه او مضارع د سَمِعَ نه راوړه او خپلو کنبی ملاو کړل نو رَکَنَ یَرْکَنُ ئی اولوستل ، په دے باندے ناخبره کس دا گمان اوکړو چی دا د فَتَحَ یَفْتَحُ نه دے حالانکه داسے نهٔ ده باقی اَبٰی یَاْبٰی شاذ دے او صاحب د علم الصیغے فرمائی چی د باب فَتَحَ دپاره کوم د عین یا لام کلمے په ځائے د حرف حلقی کیدلو شرط دے دا صرف د صحیح د پاره دے د معتل او مهموز وغیره دپاره دا شرط نهٔ دے او اَبٰی یَاْبٰی صحیح نهٔ دے بلکه مهموز او ناقص دی ۔ ( نور زیات تفصیل د پاره ارشاد الصیغه باب فتح بحث اوګورئ ) ۔

## (۵) د باب کَرُمَ خاصیت :

ددے باب خاصیت دا دے چی دا همیشه لازم استعمالیږی متعدی نه ، او ددے نه درے قسمه افعال استعمالیږی ۔

(۱) هغه افعال چی هغه په داسے صفت باندے دلالت کوی چی په هغے باندے حقیقتاً د موصوف پیدائش او خلقت شوے وی یعنی هغه د موصوف فطری او پیدائشی صفت وی دے صفت سره متصف کیدلو کښی د کسب څهٔ دخل نشته لکه حَسُنَ حَسَنًا : ښائسته کیدل ۔ قَبُحَ قَبَاحَةً : بد شکله کیدل ۔ شَجُعَ شَجَاعَةً :بهادر کیدل ، نو حسن ، بدشکلی ، بهادری دا فطری او پیدائشی صفتونه دی ددے په حصول کښی د کسب څهٔ دخل وی ۔

(۲) هغه افعال چی هغه په داسے صفت باندے دلالت کوی چی هغه صفت خلقی او پیدائشی خو نهٔ وی (یعنی د موصوف پیدائش او خلقت خو په دے صفت باندے نهٔ وی شوے ) خو لیکن بار بار تجربے او مشق کولو سره هغه صفت د موصوف سره د پیدائشی صفت په شان لازم شوے وی لکه فَقُهَ فَقَاهَةً فقیه کیدل ، فقاهة اګر چی پیدائشی صفت نهٔ دے خو لیکن د تمرین او تجربے نه پس دا د پیدائشی صفت په شان لازم او راسخ کیږی ۔

(۳) هغه افعال چی په داسے صفت باندے دلالت کوی چی هغه د پیدائشی صفت مشابه وی لکه عارضی خوبصورتی او حسن چی هغه میك اپ او بناوتی سنګار سره حاصلیږی دا مشابه دے د پیدائشی حسن ، او عارضی بدشکلی چی هغه د شکل او حلیے بدلولو لکه ماسك وغیره اچولو سره حاصلیږی دا پیدائشی بدشکلئ سره مشابه دے نو دے عارضی خوبصورتئ او بدشکلئ باندے دلالت کولو والا الفاظ هم د باب کَرُمَ نه رائی ۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

## (٦) د باب حَسِبَ خاصیت :

ددے باب خاصیت دا دے چې صرف د شمار یو څو الفاظ ددے باب نه استعمالیږی چې په هغے کښې صرف دوه
الفاظ د صحیح دی.

(١) حَسِبَ حِسْبَانًا ګمان کول (٢) نَعِمَ نِعْمَةً خوشحاله کیدل ، دا دواړه الفاظ هم زیات تر د سَمِعَ نه استعمالیږی د صحیح نه علاوه چې کوم الفاظ د باب حَسِبَ نه راځی هغه دا دی (١) وَبِقَ وُبُوْقًا هلاك کیدل (٢) وَمِقَ مِقَةً محبت ساتل (٣) وَثِقَ وُثُوْقًا اعتماد کول (٤) وَفِقَ وَفْقًا موافق کیدل (٥) وَرِثَ وَرْثًا وارث کیدل۔(٦) وَرِعَ وَرْعًا پرهیزګار کیدل (٧) وَرِمَ وَرَمًا پړسیدل (٨) وَرِىَ وَرْيًا د چقماق نه اور راوتل (٩) وَلِىَ وَلْيًا نزدے کیدل (١٠) وَغِرَ وَغْرًا کینه ساتل (١١) وَحِرَ وَحَرًا کینه ساتل (١٢) وَلِهَ وَلَهًا غمژن کیدل (١٣) وَهِلَ وَهْلًا د خلافِ مراد څيز وهم پیدا کیدل (١٤) وَغِمَ وَغْمًا د چا د پاره د کامیابئ سوال کول (١٥) وَطِئَ وَطْئًا پیمال کول (١٦) يَئِسَ يَأْسًا نا امید کیدل (١٧) يَبِسَ يُبْسًا اوچ (خشك) کیدل

ددے نه هم بعض الفاظ د سَمِعَ وغیره نه استعمالیږی.

## د ثلاثی مزید فیه بابونو خاصیات

**تنبیه :** مخکښې خاصیاتو کښې به ځائے په ځائے د مأخذ ذکر راځی نو مخکښې په دے باندے ځان پو هه کړئ چې مأخذ څۀ ته وائی.

**د مأخذ تعریف :** مأخذ هغه شے ته وئیلے کیږی چې د هغے نه فعل جوړ کړے شی برابره خبره ده کۀ هغه شے مصدر وی یا اسم جامد لکه د اَعْرَقَ فعل مأخذ عَرَاق دے چې دا اسم جامد دے او د اَقْطَعَ فعل مأخذ قَطْعٌ دے چې دا مصدر دے نو د عراق نه اَعْرَقَ فعل جوړ دے او د قَطْعٌ نه اَقْطَعَ فعل جوړ دے نو لهذا عراق او قَطْعٌ دواړه مأخذ دی.

### (١) د باب افعال خاصیات : ددے باب پینځلس خاصیات دی .

(١) تعدیه (٢) تصییر (٣) الزام (٤) تعریض (٥) وجدان (٦) سلب مأخذ (٧) اعطاء ماخذ (٨) بلوغ (٩) صیرورت (١٠) لیاقت (١١) حینونت (١٢) مبالغه (١٣) ابتداء (١٤) موافقت مجرد ، تفعیل ، تفعل ، استفعال (١٥) مطاوعت (مجرد و تفعیل).

### ددے تعریفونه :

**(١) تعدیه :** ددے لغوی معنیٰ ده تجاوز کول ، **اصطلاح :** کښې د فعل لازم نه متعدی جوړول یعنی کۀ یو فعل ثلاثی مجرد کښې لازم دے نو باب افعال کښې به د هغے نه متعدی

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

جوړیږی لکه خَرَجَ خُرُوْجًا معنی په خپله وتل، او اَخْرَجَ اِخْرَاجًا په معنی د ویستلو، په دے کښی خَرَجَ فعل ثلاثی مجرد کښی لازم وو چی باب افعال ته راغے نو متعدی شو، او کهٔ یو فعل ثلاثی مجرد کښی متعدی وی په یو مفعول سره نو باب افعال ته راتلو سره متعدی کیږی په دوو مفعولو سره لکه حَفَرْتُ نَهْرًا (ما نهر اوکنیستهٔ) او اَحْفَرْتُ زَيْدًا نَهْرًا (ما زید سره نهر اوکنیستهٔ) په دے کښی حَفَرَ فعل ثلاثی مجرد کښی متعدی وو په یو مفعول سره چی هغه نَهْرًا دے، باب افعال ته راتلو سره متعدی شو په دوو مفعولو سره مفعول اولُ زَيْدًا دے او مفعول ثانی نَهْرًا.

او کهٔ فعل ثلاثی مجرد کښی متعدی وی دوو مفعولو ته نو باب افعال کښی دریو مفعولو ته متعدی کیږی لکه عَلِمْتُ
زَيْدًا فَاضِلًا (ما زید عالم اوپیژندهٔ) او اَعْلَمْتُ عَمْرًوا زَيْدًا فَاضِلًا (ما عمرو اته اوښودله چی زید فاضل دے) په دے کښی عَلِمَ فعل ثلاثی مجرد کښی متعدی وو دوو مفعولو ته، مفعول اول دلته زَيْدًا دے او مفعول ثانی فَاضِلًا، چی باب افعال ته راغے نو دریو مفعولو ته متعدی شو مفعول اولُ عَمْرًوا دے مفعول ثانی زَيْدًا دے او مفعول ثالث فَاضِلًا دے.

(۲) تصییر : . . لغة : کښی جوړول، اصطلاحی تعریف : . . څهٔ څیز د مأخذ والا جوړول لکه اَشْرَكْتُ النَّعْلَ (ما تسمے والا پڼړا جوړه کړو) دلته د اَشْرَكْتُ فعل مأخذ شِرَاك دے (په معنی د تسمے) نو پڼړا دشِرَاك (یعنی تسمے والا) جوړه کړے شوه.

فائده : . . تعدیه او تصییر کښی نسبت د عموم خصوص من وجه دے نو لهذا دا دواړه په یو مثال کښی جمع کیدے شی لکه اَخْرَجْتُ زَيْدًا دلته تعدیه هم ده او تصییر هم، تعدیه خو ښکاره ده چی ددے مجرد خَرَجَ دے چی هغه لازم دے چی باب افعال ته راغے نو مُتعدی شو او تصییر په کښی داسے دے چی اَخْرَجْتُ زَيْدًا په معنی د جَعَلْتُهٗ ذَا خُرُوْجٍ دے چی (ما زید صاحب خروج یعنی ویستلو والا جوړ کړو) دلته مأخذ خروج دے نو زید صاحب مأخذ جوړ کړے شوے دے.

(۳) الزام : . . ددے لغوی معنی ده لازم کیدل، اصطلاحی تعریف : . فعل متعدی نه لازم جوړول یعنی باب افعال کله د فعل متعدی نه لازم جوړوی لکه اَحْمَدَ زَيْدٌ (زید د تعریف قابل شو) ددے مجرد د سَمِعَ نه دے چی هغه متعدیٰ دے لکه حَمِدْتُ زَيْدًا (ما د زید تعریف اوکړو) چی باب افعال ته راغے نو لازم ترے جوړ شو.

تنبیه : . . څنګه چی معلومه شوه چی دے باب کښی د تعدیے خاصیت هم دے او د الزام هم یعنی کله د فعل لازم نه متعدی جوړوی او کله د متعدی نه لازم جوړوی نو دا د متضاد خاصیاتو حامل باب دے.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) تعریض : . . ددے لغوی معنی ده پیش کول ، اصطلاحی تعریف : څۀ څیز د مأخذ په ځائے او محل کښې راوړل لکه اَبِعْتُ الْفَرَسَ (ما اس د بیع (خرڅولو) ځائے ته راوستۀ (یعنی منډئ ته) په دے کښې مأخذ بیع دے (یعنی خرڅول) او مأخذ (یعنی د خرڅولو) ځائے منډئ ده. دلته فرس مأخذ(د بیع) محل (منډئ) ته راوستلے شو.

(۵) وجدان : . . په لغت کښې موندل ، اصطلاح : کښې څۀ څیز مأخذ سره متصف موندل لکه اَبْخَلْتُ زَيْدًا (ما زید بخل سره متصف بیاموندۀ یعنی بخیل مے بیاموندۀ) په دے کښې بخل (یعنی بخیل کیدل) مأخذ دے متکلم زید د بخل مأخذ سره متصف بیاموندۀ.

(٦) سلب مأخذ : . . لغت کښې مأخذ لرے کول. اصطلاح: د څۀ څیز نه مأخذ لرے کول لکه اَشْكَيْتُ زَيْدًا (ما د زید شکایت لرے کړو) په دے کښې شکایت مأخذ دے چې هغه د زید نه لرے کړے شو.

(۷) اعطاء مأخذ : . . لغت کښې مأخذ ورکول ، اصطلاح کښې مفعول ته مأخذ ورکول یا د مأخذ محل ورکول یا د مأخذ حق ورکول. د مأخذ ورکولو مثال لکه اَعْظَمْتُ الْكَلْبَ (ما سپی ته عظم یعنی هډوکی ورکړو) په دے کښې کلب مفعول دے او عظم (په معنی د هډوکی) مأخذ دے نو دلته متکلم مفعول ته عین مأخذ ورکړو.

د مأخذ محل ورکولو مثال لکه اَقْطَعْتُهٗ قُضْبَانًا (ما هغۀ ته د ښاخونو (لختو ، خامبو) پریکولو حق ورکړو یعنی د ښاخونو تراشلو اجازت مے ورکړو) قُضْبَان د قَضِيْب جمع ده په معنی د ښاخ ، په دے کښې مأخذ قَطْعٌ دے (په معنی د پریکولو) دلته فاعل مفعول ته د مأخذ (یعنی قطع) حق ورکړو د حق نه مراد اجازت دے یعنی د ښاخونو پریکولو اجازت ئې ورکړو

(۸) بلوغ : ـ لغت : کښې رسیدل ، اصطلاح : د فاعل مأخذ ته رسیدل یا راتلل. برابره خبره ده کۀ دغه مأخذ زمان وی یا مکان یا عدد وی.

د زمان مثال لکه اَصْبَحَ زَيْدٌ (زید د سحر په وخت کښې راغے) په دے کښې زَيْدٌ فاعل دے او د اَصْبَحَ مأخذ د صُبْحٌ دے چې د زمانے او وخت سره تعلق ساتی.

د مکان مثال لکه اَعْرَقَ بَكْرٌ (بکر عراق ته اورسیدۀ) په دے کښې بکر فاعل دے او د اَعْرَقَ مأخذ عراق دے چې د مکان او ځائے سره تعلق ساتی.

د عدد مثال لکه اَعْشَرَتِ الدَّرَاهِمَ (دراهم د لسو عدد ته اورسیدل) په دے کښې الدَّرَاهِمَ فاعل دے او عَشَرَةٌ مأخذ دے چې د عدد یعنی شمار سره تعلق ساتی.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۹) صیرورت : .. لغت :کیدل. اصطلاح :کښی ددے درے معنی راځی.(۱) فاعل صاحبِ مأخذ کیدل (یعنی مأخذ والا کیدل) لکه أَلْبَنَتِ الشَّاةُ (چیلۍ پیو والا شوه) دلته الشَّاةُ فاعل دے او مأخذ لبن دے (په معنی د پیو) نو دلته چیلۍ صاحب مأخذ شوه).

(۲) فاعل د یو داسے څیز مالك کیدل چی هغه څیز مأخذ سره متصف وی لکه أَجْرَبَ الرَّجُلُ (سړے د خارختی اوښانو مالك شو) په دے کښی اَلرَّجُل فاعل دے جرب مأخذ دے (په معنی د خارخ) دلته رجل د داسے اوښانو مالك شو چی هغه جَرْبٌ مأخذ سره متصف دی یعنی خارخی دی.

(۳) فاعل په مأخذ کښی د څۀ څیز والا کیدل لکه أَخْرَفَتِ الشَّاةُ (چیلۍ موسم حریف کښی بچی والا شوه) په دے کښی اَلشَّاةُ فاعل دے او حریف مأخذ دے او بچے هغه څیز دے.

نوټ: .. حریف دیو موسم نوم دے چی دا د ګرمۍ او یخنۍ په ما بین کښی دریو زمانو باندے مشتمل وی.

(۱۰) لیاقت : .. لغت: کښی قابل کیدل ، اصطلاح :کښی فاعل د مأخذ قابل او مستحق کیدل لکه أَلَامَ الرَّجُلُ (سړے د ملامتیا قابل شو) په دے کښی الرَّجُلُ فاعل دے او لُوْمٌ مأخذ دے (په معنی د ملامتیا) یعنی سړے د ملامتیا مستحق شو.

(۱۱) حینونت : .. لغت کښی دا حین نه مشتق دے نو لغوی معنی ده وخت نزدے کیدل ، اصطلاح : کښی د فاعل د مأخذ وخت ته رسیدل لکه أَحْصَدَ الزَّرْعُ (فصل د پریکولو وخت ته اورسیدۀ یعنی د هغے د پریکولو وخت راغے) په دے کښی الزَّرْعُ فاعل دے او حَصَادٌ (په معنی د پریکولو) د أَحْصَدَ مأخذ دے نو دلته الزَّرْعُ فاعل دحَصَادٌ مأخذ وخت ته اورسیدۀ.

(۱۲) مبالغه : ..لغت : ..کښی په یو امر کښی زیادت بیانول ، اصطلاح : ..کښی په مأخذ کښی کثرت او زیادت راتلل برابره خبره ده کۀ دا زیادت په مقدار کښی وی یا کیفیت کښی.

د مقدار مثال لکه أَثْمَرَ النَّخْلُ (د کجورے په اونه کښی ډیره زیاته میوه راغله) په دے کښی د أَثْمَر مأخذ ثَمَرٌ دے (په معنی د پهل) ددے په مقدار کښی دلته کثرت موندلے کیږی.

په کیفیت کښی د زیادت مثال لکه أَسْفَرَ الصُّبْحُ (سحر ډیر زیادت روښانه شو) په دے کښی د أَسْفَرَ مأخذ سِفْرٌ دے (په معنی د رڼرا) نو أَسْفَرَد رڼرا په کیفیت کښی زیادت باندے دلالت کوی.

(۱۳) ابتداء : .. لغت : کښی شروع کول. اصطلاح : کښی د یو فعل شروع ددے باب نه کیدل.

بیا ددے دوه صورتونه دی (۱) رومبے صورت دا دے چی هغه فعل ثلاثی مجرد کښی د یو

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

باب نه هم نۀ وی استعمال شوے لکه اَرْقَلَ په معنی د تیزئ کولو دا په مجرد کښې بلکل نۀ استعمالیږی۔

(۲) دویم صورت دا دے چی دغه فعل په ثلاثی مجرد کښې خو استعمالیږی خو لیکن په جدا معنی کښې او مزید فیه کښې استعمالیږی خو په بله معنی کښې راغلے وی لکه اَشْفَقَ: په معنی د خراب، او بد کیدلو، دا مجرد کښې د سَمِعَ نه مستعمل دے خو لیکن د شفقت او مهربانئ په معنی سره، دغه شان اَقْسَمَ په معنی د قسم اخستلو، دا په مجرد کښې د ضَرَبَ نه مستعمل دے خو لیکن د تقسیم کولو په معنی کښې۔

(۱۴) موافقت :.. لغت کښې موافق کیدل، اصطلاح: کښې یو فعل د بل فعل په معنی (یعنی هم معنی) کیدل۔

باب افعال کښې د ثلاثی مجرد، باب تفعیل، تفعل، استفعال دے څلورو بابونو سره موافقت موندلے کیږی۔ یعنی د ثلاثی مجرد، باب تفعیل، تفعل او استفعال چی په کومه معنی کښې راځی نو باب افعال هم په هغه معنی کښې استعمالیږی

(۱) د موافقت مجرد مثال لکه اَدْجَی اللَّیْلُ (شپه توره شوه) دا د دَجَی اللَّیْلُ ثلاثی مجرد نَصَرَ یَنْصُرُ په معنی باندے دے یعنی "د شپے توریدل" دا په اصل کښې د دَجَا یَدْجُوْ ثلاثی مجرد په معنی دے بیا اَدْجٰی یُدْجِیْ د باب افعال نه هم ددغه (مجرد) په معنی کښې استعمال شوے دے۔

(۲) د موافقت تفعیل مثال لکه اَکْفَرْتُهٗ (ما د هغهٔ نسبت د کفر طرف ته اوکړو) دا د کَفَّرْتُه باب تفعیل په معنی کښې دے۔

(۳) د موافقت تفعل مثال لکه اَخْیَمْتُ الثَّوْبَ (ما د کپړے خیمه جوړه کړه) دا د تَخَیَّمْتُ الثَّوْبَ باب تفعل په معنی باندے دے۔

(۴) د موافقت استفعال مثال: لکه اَعْظَمْتُ زَیْدًا (ما زید بزرگ او لوے اوګڼړهٔ) دا د اِسْتَعْظَمْتُ زَیْدًا باب استفعال په معنی کښې دے۔

(۱۵) مطاوعت :.. لغت: کښې تابع کیدل، اِصطلاح: کښې د یو فعل نه پس دویم فعل په دے غرض سره راوړل چی دا معلومه شی چی د فعل اول د فاعل اثر مفعول قبول کړے دے لکه بَشَّرَ زَیْدٌ عَمْرًوا فَاَبْشَرَ (زید عمرو ته خوشخبری ورکړه پس عمرو خوشحاله شو) په دے مثال کښې بَشَّرَ فعل اول دے زَیْدٌ د دے فاعل دے عَمْرًوا مفعول به دے د فاعل اثر خوشحالیدل دی نو د دویم فعل یعنی اَبْشَرَ راتلو سره دا معلومه شوه چی د ړومبی فعل د فاعل اثر مفعول قبول کړے دے۔ (یعنی د زید په خوشحاله کولو سره عمرو

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

خوشحاله شو).

باب افعال ثلاثی مجرد او باب تفعیل مطاوع کیږی یعنی په باب افعال کښی ثلاثی مجرد او باب تفعیل کښی مطاوعت موندلے کیږی، د مطاوعت تفعیل مثال خو تیر شوے دے (یعنی بَشَّرَ زَيْدٌ عَمْرًوا فَأَبْشَرَ) او د مطاوعت مجرد مثال لکه كَبَبْتُ الْإِنَاءَ فَأَكَبَّ (ما لوښے اُلټه کړو پس هغه اُلټه شو) په دے کښی أَكَبَّ باب افعال دے چی دا د كَبَبْتُ ثلاثی مجرد مطاوع دے.

## (۲) د باب تفعیل خاصیات: دده دیارلس خاصیات دی.

(۱) تعدیه (۲) تصییر (۳) سلب مأخذ (۴) صیرورت (۵) بلوغ (٦) مبالغه (۷) موافقت مجرد، افعال او تفعیل (۸) ابتداء (۹) تخلیط (۱۰) تحویل (۱۱) قصر (۱۲) نسبت مأخذ (۱۳) الباس ماخذ.

په دے دیارلسو کښی د تعدیه، تصییر، سلب، صیرورت، بلوغ، مبالغه، موافقت او ابتداء دده اتو تعریفات د باب افعال په خاصیاتو کښی تیر شوے دی دلته واپس ذکر کولو ته ضرورت نشته صرف مثال کافی دے، دده نه علاوه د باقی پینځو تعریفات ذکر کیږی.

**(۱) تعدیه:** مثال لکه فَرِحَ زَيْدٌ (زید خوشحاله شو) او فَرَّحْتُ زَيْدًا (ما زید خوشحاله کړو) په دے کښی فَرِحَ فعل ثلاثی مجرد کښی لازم وو چی باب تفعیل ته راغے نو فَرَّحْتُ متعدی جوړ شو.

**(۲) تصییر:** مثال لکه نَزَّلْتُ زَيْدًا ای صَيَّرْتُهُ ذَا نُزُوْلٍ (ما زید صاحب نزول یعنی کوزیدلو والا جوړ کړو) مطلب دا دے چی ما زید کوز کړو، په دے کښی نزول د نزل مأخذ دے او زید صاحب مأخذ یعنی مأخذ والا دے.

**فائده:** دا خبره مخکښی تیره شوے ده چی په تعدیه او تصییر کښی نسبت د عموم خصوص من وجه دے لهذا دده دواړو په یو مثال کښی جمع کیدل ممکن دی پس نَزَّلْتُ زَيْدًا چی څنګه د تصییر مثال دے دغه شان دا د تعدیے مثال هم جوړیدلے شی چی نَزَلَ په ثلاثی مجرد کښی لازم دے (په معنی د کوزیدلو) چی باب تفعیل ته راغے نو متعدی شو.

**(۳) سلب مأخذ:** لکه قَذَّيْتُ عَيْنَهُ (ما د هغهٔ د سترګے نه بسرے (ګند) لرے کړو) په دے قَذًى (په معنی د پوتی، ګند) مأخذ دے چی هغه د سترګے نه لرے کړے شو.

**(۴) صیرورت:** لکه نَوَّرَ الشَّجَرُ (یعنی اونه بور داره شوه یعنی کلۍ ئی را اوویستلے) په دے کښی الشَّجَرُ فاعل دے او نَوَّرَ (په معنی د بور او کلۍ) ماخذ دے نو دلته اونه صاحب مأخذ شوه.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۵) بلوغ : . لکه غَيَّمَ زَيْدٌ (زید خیمے ته راغـے ) په دے کښی زَيْدٌ فاعل دے او خیم مأخذ دے او عَمَّقَ عُمَرُ (عمر د معاملے ویخ ته اورسیدۀ) په دے کښی عُمَرُ فاعل دے او عُمَقٌ (په معنی د جور والی ویخ) مأخذ دے۔

(٦) مبالغه : دا خاصیت په باب تفعیل کښی د نورو بابونو نه زیات موندلے کیږی ، بیا دلته د مبالغے درے قسمونه دی۔

(۱) چی مبالغه په فعل کښی وی برابره خبره ده کۀ کیفیت کښی وی لکه صَرَّحَ الْأَمْرُ ( معامله ښۀ واضحه شوه ) دلته د فعل په کیفیت کښی مبالغه ده ، یا مبالغه په کمیت او مقدار کښی وی لکه جَوَّلْتُ ( زۀ ډیر اوګرځیدم ) دلته مقدار کښی مبالغه ده چی ما ډیرے چکرے اووهلے ۔

(۲) چی مبالغه په فاعل کښی وی لکه مَوَّتَ الْإِبِلُ (ډیر اوښان مړۀ شو) دلته الْإِبِلُ فاعل کښی مبالغه موندلے کیږی چی د مړۀ شوو اوښانو تعداد ډیر زیات دے۔

(۳) چی مبالغه په مفعول کښی وی لکه قَطَّعْتُ الثِّيَابَ ( ما ډیرے کپړے پرے کړے ) دلته الثِّيَابَ مفعول کښی مبالغه موندلے کیږی په دے دریوواړو قسمونو کښی رومبے قسم اصل دے۔

(۷) موافقت مجرد افعال ، تفعل : یعنی ددے باب ثلاثی مجرد د باب افعال او تفعل موافق او په یو معنی کیدل۔

(۱) د موافقت مجرد مثال لکه تَمَّرْتُ زَيْدًا (ما زید ته کجورے ورکړے) داد تَمَرْتُ زَيْدًا د ثلاثی مجرد په معنی کښی دے

(۲) د موافقت باب افعال مثال لکه تَمَّرَ (لـونـدے کجورے اوچے شوے) دا د أَتْمَرَ باب افعال موافق او هم معنی دے۔

(۳) د موافقت باب تفعل مثال لکه تَرَّسَ زَيْدٌ (زید ډهال سره د ځان حفاظت اوکړو) دا د تَتَرَّسَ باب تفعل په معنی کښی دے۔

(۸) ابتداء :۔ لکه لَقَّبْتُهُ ( ما د هغۀ لقب کیخودۀ ) ددے مجرد نۀ دے مستعمل او جَرَّبَ يُجَرِّبُ تَجْرِبَةً په معنی د ازمیخت او امتحان اخستلو ، ددے مجرد جَرِبَ يَجْرَبُ جَرَبًا دے خو لیکن دا د خارختی کیدلو په معنی باندے دے۔

(۹) تخلیط : لغت : کښی ګډوډ کول، ملاوول ، اصطلاح : څۀ څیز د مأخذ سره ښائسته کول۔

لکه ذَهَّبْتُ السَّيْفَ ( ما توره سونے سره سنګار کړه ) دلته مأخذ ذَهَبٌ دے (په معنی د

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

سونے ) چې دے سره دلته توره سنګار کړے شوے ده۔

**(۱۰) تحویل** : ... **لغت** : کښې اړول ، **اصطلاح** : کښې څۀ څیز مأخذ جوړول یا د مأخذ په شان جوړول۔

د مأخذ جوړولو مثال لکه نَصَّرْتُ زَيْدًا ( ما د زید نه نصرانی جوړ کړو) دلته د نَصَّرَ مأخذ نصرانی دے نو دلته زید مأخذ یعنی نصرانی جوړ کړے شو۔

د ماخذ په شان جوړولو مثال لکه خَيَّمْتُ الرِّدَاءَ ( ما څادر (پورته اچولو سره ) د خیمے په شان جوړ کړو) په دے کښې مأخذ خیمه ده نو څادر د مأخذ (یعنی خیمے ) په شان جوړ کړے شو۔

**(۱۱) قصر** : .. **لغت** : کښې وړوکے کول ، **اصطلاح** : کښې د اختصار په غرض سره د مرکب نه څۀ کلمه د مشتق په طور باندے جوړول۔ لکه هَلَّلَ زَيْدٌ (زید لا اله الا الله اووئیل ) په دے کښې هَلَّلَ هغه کلمه ده چې د اختصار په غرض سره لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مرکب نه د مشتق په طور باندے جوړ کړے شوه۔ دغه شان سَبَّحَ تَسْبِيْحًا ( په معنی د سبحان الله وئیل) او رَجَّعَ تَرْجِيْعًا (انا الله و انا الیه راجعون وئیل )۔

**(۱۲) نسبت بماخذ** : .. **لغت** کښې د مأخذ طرف ته نسبت کول ، **اصطلاح** : کښې څۀ څیز د مأخذ طرف ته منسوب کول لکه فَسَّقْتُ زَيْدًا ( ما د زید نسبت د فسق طرف ته اوکړو یعنی ما هغۀ ته فاسق اووئیل ) دلته مأخذ فِسْقٌ دے چې ددے طرف ته د زید نسبت کړے شوے دے دغه شان كَفَّرْتُهٗ ( ما د هغۀ نسبت د کفر د طرف ته اوکړو یعنی هغۀ ته ما کافر اووئیل ) دلته مأخذ کفر دے

**(۱۳) الباس مأخذ** : .. **لغت** کښې مأخذ اچول ، **اصطلاح** : کښې څۀ څیز ته مأخذ اچول۔

لکه جَلَّلْتُ الْفَرَسَ ( ما اس ته زین واچوو) دلته مأخذ جُلٌّ دے (په معنی د زین) دلته اس ته مأخذ (یعنی زین) واچولے شو۔

(۳) د باب مفاعله خاصیات : ددے باب صرف درے خاصیات دی۔

(۱) مشارکت (۲) موافقت مجرد، افعال ، تفعیل ، تفاعل (۳) ابتداء

**(۱) مشارکت** : .. په **لغت** : کښې خپلو کښې شریك کیدل ، **اصطلاح** : کښې د دوو کسانو په څۀ کار کښې شریك کیدل په داسے طریقے سره چې د دواړو نه هر یو د معنی په اعتبار سره فاعل هم وی او مفعول هم لکه ضَارَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا (زید او عمرو دواړو یو بل اووهل ) دلته زید او عمرو

څپلو کښې په وهلو کښې شریك دی چونکه په وهلو کښې هر یو خصه دار دے نو دے اعتبار سره هر یو فاعل دے او په وهلو خوړولو کښې هم دواړه شریك دی نو ددے معنی په اعتبار سره هر یو مفعول هم دے۔

تنبیه : . . . د مشارکت په صورت کښې د معنی په اعتبار سره اگر چې هر یو فاعل هم جوړیږی او مفعول هم خو لیکن د لفظ په اعتبار سره یو فاعل وی او دویم مفعول لکه چې دے مذکوره مثال کښې د لفظ په اعتبار سره زَیْدٌ فاعل دے او عَمْرًوا مفعول۔

(۲) موافقت مجرد افعال ، تفعیل ، تفاعل : یعنی ددے باب د ثلاثی مجرد باب افعال ، تفعیل او تفاعل سره موافق او هم معنی کیدل۔

(۱) د موافقت مجرد مثال لکه سَافَرَ زَیْدٌ (زید سفر اوکړو) په دے کښې سَافَرَ د سَفَرَ ثلاثی مجرد په معنی کښې دی۔

(۲) د موافقت باب افعال مثال لکه بَاعَدْتُهٗ (ما هغه لرے کړو) دا د اَبْعَدْتُ باب افعال په معنی کښې دے۔

(۳) د موافقت باب تفعیل مثال لکه ضَاعَفْتُ الشَّیْئَ (ما شے دوچند کړو) دا د ضَعَّفْتُ باب تفعیل په معنی کښې دے۔

(۴) د موافقت تفاعل مثال لکه شَاتَمَ زَیْدٌ وَ عَمْرٌو (زید او عمرو یو بل ته کنزل اوکړل) په دے کښې شَاتَمَ باب مفاعله ده چې دا د تَشَاتَمَ باب تفاعل موافق دے او موافقت دلته داسے دے چې څنگه په باب تفاعل کښې دوه شریکان د لفظ په اعتبار سره فاعل جوړیږی (لکه څنگه چې اوس نزدے په خاصیت تشارك کښې تیر شو) نو دغه شان دلته تَشَاتَمَ باب مفاعله کښې هم دواړه شریکان یعنی زید او عمرو لفظا فاعل دی۔

(۳) ابتداء : . . لکه اَلْمُتَاخَمَةُ (د یو زمکے حد بلے زمکے سره متصل کول) ددے مجرد نۀ دے مستعمل او قَاسٰی

یُقَاسِیْ مُقَاسَاةٌ په معنی د تکلیف برداشت کولو ددے مجرد قَسَا یَقْسُوْ قَسْوَةٌ دے خو لیکن ددے معنی ده " سخت زړۀ والا کیدل "۔

(۴) د باب تفعل خاصیات : ددے یوولس خاصیات دی۔

(۱) مطاوعت تفعیل (۲) تَکَلُّف (۳) تَجَنُّبْ (۴) لبس ماخذ (۵) تَعَمُّل (۶) اِتِّخَاذ (۷) تدریج (۸) تحوُّل (۹) صیرورت (۱۰) موافقت مجرد ، افعال ، تفعیل ، استفعال (۱۱) ابتداء۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په دے یوولسو کښی د څلورو تعریفات تیر شوے دی (یعنی مطاوعت، صیرورت، موافقت، ابتداء) د باقی اووهٔ تعریفات ذکر کیږی۔

**(۱) مطاوعت تفعیل :** (یعنی باب تفعل د باب تفعیل نه پس په دے عرض سره راوړل چی هغه په دے خبره باندے دلالت اوکړی چی د وړومبی فعل د فاعل اثر مفعول قبول کړے دے) لکه قَطَّعْتُ الشَّیْئَ فَتَقَطَّعَ (ما شے ټکړے ټکړے کړو پس هغه ټکړے ټکړے شو) دا خاصه په دے باب کښی په کثرت سره موندلے کیږی۔

**(۲) تکلّف :ــ لغت :** کښی خپل ځان په خپله په تکلیف او مشقت کښی اچول، **اصطلاح :** کښی خپل ځان په زور باندے مأخذ سره متصف ظاهرول۔ یعنی کوم مأخذ طرف ته چی فاعل حقیقةً نۀ دے منسوب داسے مأخذ طرف ته خپل ځان په زور او جعلی طور باندے منسوب کول یا کوم مأخذ چی حقیقة هغۀ ته نۀ دے حاصل د هغے په حصول کښی تکلیف او مشقت تیرول او په تکلف سره د هغے اظهار کول۔ مأخذ طرف ته د منسوب کیدلو مثال لکه تَکَوَّفَ زَیْدٌ (زید په تکلّف سره کوفی جوړ شو) په دے کښی مأخذ کوفه ده دلته زید حقیقةً کوفی نۀ دے، لیکن په زور او جعلی طورباندے هغۀ خپل ځان کوفی ښکاره کړو او خپل نسبت ئی د کوفے طرف ته اوکړو۔

د حصول مأخذ مثال لکه تَشَجَّعَ زَیْدٌ (زید په تکلف سره خپل ځان بهادر ښکاره کړو) په دے کښی مأخذ شُجَاعَةٌ دے (په معنی د بهادرئ) نو شجاعت سره زید حقیقةً متصف نۀ وو لیکن په تکلف او زبردستئ سره هغۀ خپل ځان شجاع ښکاره کړو۔

**(۳) تجنّب :.. لغت :** کښی ځانله یو طرف ته کیدل۔ **اصطلاح :** کښی د مأخذ نه پرهیز او ډډه کول۔

لکه تَحَوَّبَ زَیْدٌ (زید د ګناه نه پرهیز اوکړو) دلته مأخذ حَوْبٌ دے (په معنی د ګناه) نو زید د مأخذ نه اجتناب اوکړو، تَأَثَّمْتُ (ما د ګناه نه پرهیز اوکړو) دلته مأخذ اِثْمٌ په معنی د ګناه۔

**(۴) لبس مأخذ :.. لغت** کښی مأخذ اغوستل، **اصطلاح :** کښی د فاعل مأخذ اغوستل۔ لکه تَخَتَّمَ زَیْدٌ (زید ګوتمه واچوله) په دے کښی زَیْدٌ فاعل دے او خَاتَمٌ (په معنی د ګوتمے) مأخذ دے نو زید فاعل خاتم مأخذ واچوو۔

**(۵) تعمّل :... لغت :** کښی په کار راوستل۔ **اصطلاح :** کښی مأخذ په کار کښی راوستل (یعنی مأخذ چی د کوم کار د پاره وضع کړے شوے دے هغه په دغه کار کښی استعمالول) بیا ددے درے قسمونه دی۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) مأخذ به د فاعل سره داسے ملاو شوے وی چی هغه فاعل سره بلکل پیوست محسوس کیږی فاعل نه جدا نهٔ محسوسیږی لکه تَدَهَّنَ زَيْدٌ (زید تیل په کار کښی راوستل یعنی جسم سره ئی ملاو کړل) ددے مأخذ دُهْنٌ (په معنی دتیل) دے، دلته د تیلو د زید جسم سره داسے اتصال شوے دے چی هغه د جسم د جزء په شان محسوسیږی ګویا چی دا څهٔ جدا څیز نهٔ دے۔

(۲) دویم قسم دا دے چی مأخذ فاعل سره خو متصف وی خولیکن جدا محسوسیږی لکه تَتَرَّسَ خَالِدٌ (خالد ډهال په کار کښی راوستهٔ یعنی ډهال سره ئی خپل حفاظت اوکړو) دلته مأخذ تَرَّسَ (په معنی د ډهال) دے اوس ډهال جسم سره متصل خو وی خو جدا محسوسیږی۔

(۳) دریم قسم دا دے چی مأخذ فاعل سره متصل نهٔ وی بلکه هغهٔ سره نزدے او مجاور وی لکه تَخَيَّمَ عِمْرَانُ (عمران خیمه په کار کښی راوسته یعنی خیمه ئی اولګوله) په دے کښی مأخذ خیمه ده۔

(٦) اتخاذ : .. لغت : کښی نیول ، اختیارول۔ اصطلاح : کښی ددے څلور معنی راځی ۔

(۱) مأخذ جوړول او ایجاد کول لکه تَبَوَّبَ (هغهٔ دروازه جوړه کړه) ددے مأخذ بَابٌ دے (په معنی د دروازے) دلته باب مأخذ جوړ کړے شو۔

(۲) مأخذ اختیارول لکه تَجَنَّبَ (هغه یو جانب اختیار کړو یعنی یو اړخ ته شو) ددے مأخذ جَنْبٌ دے (په معنی د اړخ) دلته مأخذ اختیار کړے شو۔

(۳) څهٔ څیز مأخذ جوړول لکه تَوَسَّدَ الْحَجَرَ (هغهٔ کاڼړے تکیه جوړه کړه) په دے کښی د تَوَسَّدَ مأخذ وِسَادَةٌ دے (په معنی د تکیه) دلته کاڼړے مأخذ یعنی وِسَادَةٌ جوړ کړے شو۔

(۴) څهٔ څیز په ماخذ کښی راوستل لکه تَأَبَّطَ الْكِتَابَ (هغهٔ کتاب په ترخ کښی واخستهٔ) دلته مأخذ اِبْطٌ دے (په معنی د بغل، ترخ) دلته کتاب اِبْطٌ مأخذ یعنی ترخ کښی واخستے شو۔

(۷) تدریج : ... لغت : کښی په قلار قلار کول ، اصطلاح : کښی څهٔ کار بار بار په مزه مزه کول ، بیا ددے دوه قسمونه دی۔(۱) چی ددغه کار په یو ځل کول هم ممکن وی لکه تَجَرَّعَ زَيْدٌ (زید اوبهٔ په ګوټ ګوټ اوڅکلے) نو انسان اوبهٔ په یو ځل هم څکلے شی ۔ (۲) چی ددغه کار په یو ځل کول بلکل ممکن نهٔ وی لکه تَحَفَّظْتُ الْقُرْآنَ (ما قرآن مجید لږ لږ یاد کړو) نو قرآن مجید په یو ځل یادول عادةً محال دی۔

(۸) تحوّل : ــ لغت : کښی اوړیدل ، اصطلاح : کښی یو څیز مأخذ کیدل یا د مأخذ په شان کیدل۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

د عین مأخذ کیدلو مثال لکه تَنَصَّرَ الرَّجُلُ (سړے نصرانی شو) دد ے مأخذ نصرانی دے نو دلته سړے عین مأخذ یعنی نصرانی جوړ شو۔ او د مثل کیدلو مثال لکه تَبَحَّرَ زَيْدٌ (زید د علم په وسعت او زیادت کښې د دریاب په شان شو) دد ے مأخذ بَحْرٌ دے (په معنی د دریاب) نو دلته زید په علمی وسعت او فراخۍ کښې د دریاب په شان شوے دے۔

(۹) صیرورت :۔ (دد ے تعریف تیر شوے دے) لکه تَمَوَّلَ حَامِدٌ (حامد صاحب مال شو یعنی د مال خاوند شو) په دے کښې حامد فاعل دے او مال مأخذ دے نو حامد صاحب مأخذ دے۔

(۱۰) موافقت مجرد افعال، تفعیل، استفعال (یعنی دد ے باب د ثلاثی مجرد د باب افعال، باب تفعیل او استفعال په معنی کښې استعمالیدل)۔

(۱) د موافقت مجرد مثال: لکه تَقَبَّلَ (په معنی د قبلولو) دا د قَبِلَ ثلاثی مجرد په معنی دے۔

(۲) د موافقت باب افعال مثال لکه تَبَصَّرَ (په معنی دلیدلو) دا د اَبْصَرَ باب افعال په معنی کښې دے۔

(۳) د موافقت باب تفعیل مثال لکه تَكَذَّبَ (د دروغو طرف ته نسبت کول یعنی چاته دروغژن وئیل) دا د كَذَّبَ باب تفعیل په معنی کښې دے۔

(۴) د موافقت باب استفعال مثال لکه تَحَوَّجَ (په معنی د حاجت طلب کولو) دا د اِسْتَحْوَجَ باب استفعال په معنی کښې دے۔

(۱۱) ابتداء :۔ چې دد ے استعمال د مجرد نه نۀ وی لکه تَوَيَّلَ (یا وَيْلَتَا وئیل) دد ے مجرد نۀ دے مستعمل او تَكَلَّمَ (په معنی د خبرو کولو) دد ے مجرد كَلَمَ كَلْمًا د ضَرَبَ نه مستعمل دے خو لیکن دد ے معنی ده "زخمی کول"۔

(۵) د باب تفاعل خاصیات : د باب تفاعل پینځۀ خواص دی۔

(۱) تشارك (۲) تخییل (۳) مطاوعت مفاعله بمعنی افعال (۴) موافقت مجرد و افعال (۵) ابتداء۔

(۱) تشارك :۔ دد ے تعریف هم هغه دے کوم چې د باب مفاعله د خاصیت مشارکت تعریف دے لکه تَشَاتَمَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو (زید او عمرو یو بل ته کنزل اوکړل)۔

**سوال** :۔ مشارکت کوم چې د باب مفاعله خاصیت دے او تشارك کوم چې دد ے باب

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

خاصیت دے دے دواړو کښی څۀ فرق شته یا نه ؟

**جواب** : .. دے دواړو کښی فرق دے او هغه دا چې مشارکت کښی په دواړو شریکانو کښی یو د لفظ په اعتبار سره فاعل وی او دویم مفعول لکه ضَارَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا دے د لفظ په اعتبار سره زید فاعل دے او عَمْرًوا مفعول دے ، حالانکه تشارك کښی د لفظ په اعتبار سره دواړه فاعل راځی ۔ لکه تَشَاتَمَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو ، په دے کښی زَيْدٌ او عَمْرٌو دواړه لفظا فاعل دی

دویم فرق دا دے چې باب مفاعله کښی دواړه شریکان د معنی په اعتبار سره همیشه په یو ځل فاعل هم راځی او مفعول هم ( صرف فاعل یا صرف مفعول نۀ راځی ) حالانکه باب تفاعل یعنی تشارك کښی چې څنګه د لفظ په اعتبار سره دواړه شریکان فاعل راځی نو دغه شان کله د معنی په اعتبار سره هم دواړه صرف فاعل راځی ( مفعول نۀ راځی ) لکه تَرَاقَعَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو حَجَرًا (زید او عمرو دواړو په یو ځائے کاڼړے اوچت کړو) دے مثال کښی دواړه شریك (یعنی زید او عمرو) څنګه چې د لفظ په اعتبار سره فاعل دی نو دغه شان د معنی په اعتبار سره هم صرف فاعل دی د مفعول صلاحیت په دے کښی نشته ځکه چې دلته صرف د فعل صدور شوے دے یعنی کاڼړے اوچتول . وقوع د فعل دلته بلکل شته نه حالانکه مفعول هغه راځی چې په هغے باندے فعل واقع شوے وی . خو لیکن په دے معنی کښی د باب تفاعل استعمال کم دے ۔

**(۲) تخییل** : .. **لغت** : کښی وهم او شك کښی اچول ، **اصطلاح** : کښی نورو ته د خودنے د پاره جعلی طور باندے خپل ځان مأخذ سره متصف ظاهرول لکه تَمَارَضَ زَيْدٌ ( زید خپل ځان مریض ښکاره کړو) په دے کښی مأخذ مَرَضٌ دے ( په معنی د بیمارئ) نو زید په حقیقت کښی مرض مأخذ سره نۀ وو متصف یعنی په حقیقت کښی بیمار نۀ وو خو لیکن د

خودنے د پاره هغۀ خپل ځان بیمار ظاهر کړو ، دغه شان تَجَاهَلَ ( هغۀ خپل ځان جاهل ظاهر کړو) یعنی په حقیقت کښی هغه باخبر وو علم ورته وو خو لیکن په تکلف او زور سره ئی خپل ځان ناخبره ښکاره کړو چې دے ته تجاهل عارفانه وئیلے کیږی ۔ دلته مأخذ جَهَالَتْ دے ۔

**سوال** : .. تکلف کوم چې باب تفعل خاصیت دے او تخییل کوم چې دا دے باب تفاعل خاصیت دے آیا په دے دواړو کښی څۀ فرق شته ؟ د تعریف په اعتبار سره خو په دے دواړو کښی څۀ خاص فرق په نظر نۀ راځی ؟

**جواب** : .. تکلّف او تخییل کښی فرق دے او هغه دا چې تکلف کښی فاعل د کوم مأخذ سره خپل ځان متصف ظاهروی هغه اکثر خوخ او پسندیده وصف وی او فاعل ته هغه مطلوب وی لکه تَشَجَّعَ زَيْدٌ چې دا د تکلف مثال دے په دے کښی اظهار د شجاعت او بهادرئ مطلوب دے او

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

شجاعت یو خوښ صفت دے ، حالانکه په تخییل کښې چې د کوم مأخذ اظهار کیږی هغه طبعی طور باندے ناخوښه وصف وی او په حقیقت کښې د هغے حاصلول مطلوب نهٔ وی بلکه په دے کښې صرف نورو ته خودنه او دهوکه ورکول مقصود وی لکه تَجَاهَلَ زَيْدٌ د تخییل مثال دے ، په دے کښې د جهالت اظهار په حقیقت کښې مطلوب نهٔ دے ځکه جهالت طبعی طور باندے یو ناخوښه صفت دے صرف د څهٔ غرض د وجے نه نورو ته د خودنے دپاره ددے اظهار کیږی۔

**(۳) مطاوعت مفاعله بمعنی افعال :** .. یعنی دا باب تفاعل د هغه باب مفاعله مطاوع کیږی کوم باب مفاعله چې د باب افعال موافق او هم معنیٰ وی لکه بَاعَدْتُهٗ فَتَبَاعَدَ (ما هغه لرے کړو پس هغه لرے شو)۔ په دے کښې تَبَاعَدَ باب تفاعل دے کوم چې دا د بَاعَدْتُ باب مفاعله مطاوع دے او بَاعَدْتُ داسے باب مفاعله دے چې دا د اَبْعَدْتُ باب افعال په معنی کښې دے (لکه څنګه چې پورته ذکر شو)۔

**(۴) موافقت مجرد و افعال :** .. یعنی دا باب د ثلاثی مجرد او باب افعال په معنی کښې استعمالیږی۔

د موافقت مجرد مثال لکه تَعَالٰی (په معنی د پورته او بلند کیدلو) دا د عَلَا ثلاثی مجرد په معنی دے۔

او د موافقت باب افعال مثال لکه تَيَامَنَ (په معنی د يَمَنْ کښې داخل شو) دا د اَيْمَنَ باب افعال په معنی دے۔

**(۵) ابتداء :** .. لکه تَدَاحَكَ (بے تکلفه کیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل او تَبَارَكَ (بابرکته او مقدس کیدل) ددے مجرد بَرَكَ بُرُوْكًا د نَصَرَ نه "د اوښ د کینولو او چو کولو" په معنی کښې مستعمل دے۔

**(٦) د باب افتعال خاصیات :** ددے شپږ خاصیات دی۔

**(۱) اتخاذ (۲) تصرُّف (۳) تَخْيِيْر (۴) مطاوعت تفعیل (۵) موافقت مجرد ، افعال ، تفعل ، تفاعل ، استفعال ، (٦) ابتداء۔**

دے شپږو خاصیاتو کښې صرف دوه نوے دی (یعنی تصرف او تخییر) باقی څلور تعریفونه تیر شوے دی۔

**(۱) اتخاذ :** .. د باب تفعل په خاصیاتو کښې دا خبره تیره شوے ده چې اصطلاح کښې د اتخاذ څلور معانی راځی۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) مأخذ جوړول (۲) مأخذ اختیارول (۳) څۀ څیز مأخذ کول (۴) څۀ څیز په مأخذ کښې اخستل۔

د مأخذ جوړولو مثال لکه اِجْتَحَرَ الْفَارُ (مږے سوراخ جوړ کړو) ددے مأخذ جُحْرٌ دے (په معنی د سوراخ)

• د مأخذ اختیارولو مثال لکه اِجْتَنَبَ زَیْدٌ (زید یو جانب اختیار کړو یعنی ځانله شو) ددے مأخذ جَنْبٌ دے په معنی د جانب او اړخ۔ د څۀ څیز د جانب جوړولو مثال لکه اِغْتَذَی الشَّاۃُ (هغۀ بکرے خپل خوراك جوړ کړو) په دے کښې د اِغْتَذَی مأخذ غِذَاء ده۔ (په معنی د خوراك) نودلته چیلۍ مأخذ یعنی غذا جوړه کړے شوه۔۔

څۀ څیز په مأخذ کښې د اخستلو مثال لکه اِحْتَجَرَ الطِّفْلُ (ما ماشوم په غیږ کښې واخستۀ) ددے مأخذ حِجْرٌ دے (په معنی د غیږ)۔

(۲) تصرُّف : ..لغت: کښې خوښول، اصطلاح: کښې څۀ کار د خپل ځان د پاره کول لکه اِکْتَلْتُ (ما د خپل ځان د پاره کیل اوکړو یعنی تول مے اوکړو) نو دلته د تول او وزن کولو فعل د خپل ځان د پاره اوکړے شو۔

(۴) مطاوعت تفعیل : ..یعنی د باب تفعیل مطاوع کیدل لکه غَمَّمْتُهٗ فَاغْتَمَّ (ما هغه غمژن کړو پس هغه غمژن شو)

(۵) موافقت مجرد، افعال، تفعل، تفاعل، استفعال :.......(یعنی ددے باب د مذکوره بابونو موافق او هم معنی کیدل)۔

(۱) د موافقت مجرد مثال لکه اِبْتَلَجَ الصُّبْحُ (سحر روښانه شو) دا د بَلَجَ الصُّبْحُ ثلاثی مجرد نَصَرَ یَنْصُرُ په معنی کښې دے۔(۲) د موافقت باب افعال مثال لکه اِحْتَجَزَ (حجاز کښې داخل شو) دا د اَحْجَزَ باب افعال په معنی دے۔

(۳) د موافقت باب تفعل مثال لکه اِرْتَدٰی (هغۀ ځادر ځان نه تاو کړو) دا تَرَدّٰی باب تفعل په معنی کښې دے۔

(۴) د موافقت تفاعل مثال لکه اِخْتَصَمَ زَیْدٌ وَ عَمْرٌو (زید او عمرو خپلو کښې جګړه اوکړه) دا د تَخَاصَمَا باب تفاعل په معنی دے۔

(۵) د موافقت باب استفعال مثال: لکه اِئْتَجَرَ (هغه اجرت طلب کړو) دا د اِسْتَأْجَرَ باب استفعال په معنی کښې دے۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(٦) شپږم خاصیت ابتداء : ... لکه اِبْتَجَزَ په معنی (د خکته کیدلو) ددے مجرد نۀ دے مستعمل ، او اِسْتَلَمَ اِسْتِلَامًا (په معنی د کانړی بوسه کول) ددے مجرد د سَلِمَ سَلَامَةً سَمِعَ یَسْمَعُ نه دے (په معنی د سلامت پاتے کیدلو).

(۷) د باب استفعال خاصیات : ددے لس خواص دی.

(۱) طلب (۲) حسبان (۳) لیاقت (۴) وجدان (۵) تحول (٦) اتخاذ (۷) قصر (۸) مطاوعت افعال (۹) موافقت مجرد ، افعال، تفعل ، افتعال (۱۰) ابتداء.

پـه دے کښـی د اتـو تـعریـفـات مـخکښـی تیر شـوے دی صرف دوه نوے دی (۱) طلب (۲) حسبان).

(۱) طلب : .. لغت :کښی طلب کول، اصطلاح : کښی مأخذ طلب کول لکه اِسْتَطْعَمْتُ (ما خوراك طلب کړو) ددے مأخذ طَعَامٌ دے (په معنی د خوراك) او اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ (زۀ د الله تعالی نه مغفرت طلب کوم) ددے مأخذ مَغْفِرَةٌ دے (په معنی د بخشش او معافئ).

(۲) حِسْبان : .. لغت : کښی ګمان کول ، اصطلاح : کښـی څۀ څیزد مأخذ متصف ګـنړل (یعنی د څۀ څیز متعلق دا ګمان کول چی هغه مأخذ سره متصف دے) لکه اِسْتَحْسَنْتُ زَیْدًا (مـا زید نیك اوګنړۀ یعنی ما په هغۀ باندے د نیك او ښۀ کیدلو ګمان اوکړو) ددے مأخذ حُسْنٌ دے. (پـه مـعنی د ښۀ اونیك) نو ذلته زید باندے د مأخذ (حُسْنٌ) سره د متصف کیدلو ګمان کړے شوے دے.

**سوال** : .. حِسْبَانْ او وِجْدَانْ کښی څۀ فرق دے ؟

**جواب** : . دواړو کښی فرق دا دے چی وِجْدَانْ کښی د څۀ څیز مأخذ سره د متصف کیدلو یقین راځی او په حِسْبَانْ کښی مأخذ سره د متصف کیدلو شك او ګمان وی یقین نۀ وی.

(۳) لیاقت : .. لکه اِسْتَرْقَعَ الثَّوْبُ (کپړه د پیوند لګولو قابله شوه. یعنی اوشلیده) په دے کښی الثَّوْبُ فاعل دے او رُقْعَةٌ (په معنی د پیوند) مأخذ دے نو کپړه د پیوند قابله شوه.

(۴) وِجْدان : .. لکه اِسْتَکْرَمْتُ زَیْدًا (ما زید کریم یعنی سخی بیاموندۀ) ددے مأخذ کَرَمٌ دے (په معنی د سخاوت) متکلم زید د کرم مأخذسره متصف بیاموندۀ.

(۵) تحول : .. دا مخکښی تیر شوے دے ددے دوه معانی راځی (۱) څۀ څیز عین مأخذ کیدل (۲) د مأخذ په شان کیدل. د عین مأخذ کیدلو مثال : . لکه اِسْتَحْجَرَ الطِّیْنُ ((ختـه کانړے جوړه کړے شوه) ددے مأخذ حَجَرٌ دے (په معنی د کانړی) نو ختـه عین مأخذ (یعنی کانړے) جوړه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کړے شوه، د مأخذ په شان کیدلو مثال لکه اِسْتَنْوَقَ الْجَمَلُ (اوښ کمزورتیا وغیره صفاتو کښی) د اوښے په شان شو) ددے مأخذ نَاقَةٌ دے (په معنی د اوښے) دلته اوښ د مأخذ (یعنی نَاقَةٌ) په شان شو.

(٦) اتخاذ: .. لکه اِسْتَوْطَنْتُ الْحِجَازَ (ما حجاز وطن جوړ کړو) ددے مأخذ وَطَنٌ دے. د اتخاذ یو معنی ده څهٔ څیز مأخذ جوړول نو دا د څهٔ څیز ه مأخذ جوړولو مثال دے چی دلته حجاز مأخذ یعنی وطن جوړ کړے شو.

**سوال**: . د اتخاذ خو څلور معانی راځی یعنی ددے څلور صورتونه جوړیږی (لکه څنګه چی مخکښی تیر شوے دی) خو دلته ئی صرف د یو صورت مثال ورکړو (یعنی څهٔ څیز مأخذ جوړول) د باقی مثالونه ئی ولے ورنکړل؟

**جواب**: .. په کوم باب کښی چی د اتخاذ خاصیت وی هلته ددے څلورو صورتونه د یو موندل ضروری دی د ټولو موندل ضروری نهٔ دی نو باب استفعال کښی د اتخاذ خاصیت اکثر د څهٔ څیز د مأخذ جوړولو په صورت کښی موندلے کیږی د اتخاذ باقی صورتونه دلته زیات مستعمل او رائج نهٔ دی.

(٧) قصر: .. لکه اِسْتَرْجَعَ زَيْدٌ (زید انا لله و انا الیه راجعون اووئیل) په دے کښی اِسْتَرْجَعَ داسے کلمه ده چی دا د اختصار په غرض سره د "انا لله و انا الیه راجعون" مرکب کلام نه د مشتق په طرز باندے جوړه کړے شوے ده.

(٨) مطاوعت باب افعال: .. لکه اَقَمْتُهُ فَاسْتَقَامَ (ما هغه ادرولو وو پس هغه اودریدهٔ) په دے کښی اِسْتَقَامَ باب استفعال دے چی دا د اَقَمْتُ باب افعال مطاوع دے.

(٩) موافقت مجرد، افعال، تفعل، افتعال: .. یعنی ددے باب استفعال د مذکوره بابونو په معنی کښی مستعمل کیدل. (١) د موافقت مجرد مثال لکه اِسْتَبَانَ اِسْتِبَانَةً په معنی د واضح کیدلو) دا د بَانَ يَبِيْنُ بَيَانًا ثلاثی مجرد په معنی کښی دے.

(٢) د موافقت باب افعال مثال لکه اِسْتَجَابَ اِسْتِجَابَةً (په معنی د جواب ورکولو او اوقبلولو) دا د اَجَابَ اِجَابَةً باب افعال په معنی کښی دے.

(٣) د موافقت تفعل مثال لکه اِسْتَكْبَرَ اِسْتِكْبَارًا (غرور او تکبر کول) دا د تَكَبَّرَ تَكَبُّرًا باب تفعل په معنی دے.

(۴) د موافقت باب افتعال مثال لکه اِسْتَعْصَمَ (مضبوط نیول) دا د اِعْتَصَمَ باب افتعال په

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

معنی کښی دے۔

(۱۰) ابتداء : .. لکه اِسْتَاْجَزَ اِسْتِیْجَازًا ( په معنی د خکته کیدلو او ټیټیدلو ) ددے مجرد نۀ دے مستعمل او اِسْتَحَدَ اِسْتِحْدَادًا ( د نامه نه لاندے ویختۀ صفا کول ) ددے مجرد حَدَّ حَدًّا (د تیزولو او حد قائمولو ) په معنی کښی مستعمل دے۔

(۸) د باب انفعال خاصیات : ددے باب پینځۀ خاصیات دی۔

(۱) لزوم (۲) علاج (۳) مطاوعت مجرد و افعال (۴) موافقت مجرد و افعال (۵) ابتداء۔

(۱) لزوم : .. یعنی لازم استعمالیدل ، باب انفعال همیشه لازم راځی متعدی نۀ راځی برابره خبره ده کۀ ددے مجرد هم لازم وی یا مجرد متعدی وی لکه اِنْفَرَحَ خوشحالیدل ، دا باب انفعال دے کوم چی لازم دے او ددے مجرد فَرِحَ هم لازم دے، کوم چی د خوشحالیدلو په معنی کښی دے ، اِنْصَرَقَ په معنی د اوریدلو ، دا باب انفعال ذے کوم چی لازم دے ددے مجرد دِ صَرَّقَ یُصَرِّقَ ضَرَبَ یَضْرِبُ نه د اوریدلو په معنی کښی دے چی هغه متعدی دے ، د بعض صرفی علماؤ په نزد ددے باب د ثلاثی مجرد متعدی کیدل ضروری دی۔

(۲) علاج : .. لغت : کښی مشق کول یا د بیمارئ علاج کول ، اصطلاح : کښی د یو فعل د هغه افعالو نه کیدل چی هغه په امور محسوسه باندے دلالت کوی (یعنی داسے معنی باندے چی د هغے علم په ظاهری حواسو سره کیدے شی ) لکه اِنْکَسَرَ یَنْکَسِرُ اِنْکِسَارًا ( په معنی د ماتیدلو ) نو د یو څیز ماتیدل یو حسی اِمر دے ، دغه شان اِنْفَطَرَ اِنْفِطَارًا (شلیدل) او د یو څیز شلیدل هم د امور محسوسه نه دی۔

(۳) مطاوعت مجرد و افعال : .. یعنی د ثلاثی مجرد او باب افعال مطاوع کیدل خو لیکن د ثلاثی مجرد مطاوع کیدل زیات راځی او د باب افعال کم۔

د مطاوعت مجرد مثال لکه کَسَرْتُ الْاِنَاءَ فَانْکَسَرَ (ما لوخے مات کړو پس هغه مات شو ) ۔

او د مطاوعت افعال مثال : .. لکه اَغْلَقْتُ الْبَابَ فَانْغَلَقَ ( ما دروازه بنده کړه پس هغه بنده شوه )۔

(۴) موافقت مجرد و افعال : .. یعنی د ثلاثی مجرد او باب افعال په معنی کیدل خو لیکن دا خاصیت په دے کښی ډیر کم موندلے کیږی . د موافقت مجرد مثال لکه اِنْطَفَئَتِ النَّارُ ( په معنی د اور مړ شو ) داد طَفَئَتِ النَّارُ ثلاثی مجرد (از سمع ) په معنی کښی دے۔

د موافقت افعال مثال لکه اِنْحَجَزْتُ (زۀ حجاز ته لاړم) دا اَحْجَزْتُ باب افعال په معنی کښی دے۔

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۵) ابتداء : . . لکه اِنْطَلَقَ اِنْطِلَاقًا (په معنی د تللو) ددے مجرد طَلَقَ یَطْلُقُ طَلَاقًا د نَصَرَ نه مستعمل دے، په معنی د پریخودلو او ښځے ته طلاق ورکولو، ددے مجرد نۀ دے مستعمل، ددے مثال صاحب د نوادر د تاج المصادر په حوالے سره اِنْجَحَرَ ورکړے دے (په معنی د سوراخ کښې داخلیدلو) خو لیکن دا مثال صحیح نۀ دے ځکه چې ددے ماده جَحَرَ یَجْحَرُ د باب فَتَحَ نه مستعمل ده۔

فائده : . . د کوم لفظ د فاء کلمے په ځائے چې د حروف یَرْمَلُوْنَ نه یو حرف وی، نو هغه لفظ د باب انفعال نه نۀ راځی ځکه چې د داسے لفظ د باب انفعال نه راتلل د ثقل سبب دے۔ کۀ د باب انفعال معنی ادا کول مقصود وی نو د هغے طریقه داده چې دغه لفظ به د باب افتعال نه راوړلے شی۔

د یاء مثال لکه یَسَرَ کښې د فاء کلمے په ځائے یاء ده نو دا به د باب اتفعال طرف ته یوړلے شی او اِتَّسَرَ به وئیلے کیږی۔

د راء مثال لکه رَفَعَ کښې د فاء کلمے په ځائے راء ده نو دا به د باب اتفعال طرف ته اړولو سره اِرْتَفَعَ لوستلے کیږی۔

د میم مثال لکه مَدَّ کښې د فاء کلمے په ځائے باندے میم دے نو دا به د باب افتعال نه اِمْتَدَّ لوستلے کیږی۔

دلام مثال لکه لَوٰی نه اِلْتَوٰی۔ د واو مثال لکه وَصَلَ نه اِتَّصَلَ۔ د نون مثال لکه نَکَسَ نه اِنْتَکَسَ او نَقَلَ نه اِنْتَقَلَ۔

اعتراض : . . مَحَا یَمْحُوْا مَحْوًا کښې د فاء کلمے په ځائے میم دے خو لیکن ددے باوجود هم دا د باب انفعال نه راغلے دے لکه اِنْمَحٰی یَنْمَحِیْ اِنْمِحَاءً ؟

جواب : . . . دا شاذ دے دے له څۀ اعتبار نشته او د بعضو په نزد پورته ذکر شوے قاعده د میم نه علاوه باقی پینځو حروفو سره متعلق ده۔ میم په دے کښې نۀ دے شامل نو لهذا په دے صورت کښې خو بلکل هډو څۀ اشکال نۀ راځی۔

## (۹) د باب افعلال او (۱۰) د باب افعیلال خاصیات :

ددے دواړو څلور خاصیات دی (۱) لزوم (۲) مبالغه (۳) لون (۴) عیب۔

(۱) لزوم : . . دا دواړه همیشه لازم راځی د افعلال مثال لکه اِحْمَرَّ اِحْمِرَارًا ، او د افعیلال مثال لکه اِحْمَارَّ اِحْمِیْرَارًا (د دواړو معنی ده سور کیدل)۔

(۲) مبالغه : . . د باب افعلال مثال لکه اِسْوَدَّ اِسْوِدَادًا (ډیر زیات تور کیدل) ددے مأخذ سَوَادٌ دے په معنی د تور والی) د افعیلال مثال لکه اِدْهَامَّ اِدْهِیْمَامًا (ډیر تور کیدل) ددے

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مأخذ دُهْمَةٌ دے ( په معنی د تور والی ).

(۳) لون : .. (۴) عیب : ... یعنی دے دواړو بابونو کښې زیات تر د رنګ او عیب معنی موندلے کیږی. د لون مثال خو پورته تیر شوے دے (یعنی اِحْمَرَّ او اِدْهَامَّ ) د عیب مثال لکه اِحْوَلَّ اِحْوِلَالًا او اِحْوَالَّ اِحْوِيْلَالًا ( په معنی د کاڼړا (چغر چی سترګو کښې ئی فرق وی)کیدلو ) چی کاڼړا کیدل دا عیب دے.

تنبیه : (۱) د مبالغے خاصه خو په دے دواړو کښې مشترك ده خو لیکن باب افعیلال کښې مبالغه زیاته راځی په نسبت د باب افعلال.

تنبیه : (۲) : د رنګ او عیب معنی دواړه په دے کښې موندلے کیږی خو لیکن زیاد تر په دے دواړو بابونو کښې د

رنګ معنی موندلے کیږی د عیب معنی په کښې کمه موندلے کیږی.

(۱۱) د باب افعیعال خاصیات : ..دد ے خلور خاصیات دی.

(۱) لزوم (۲) مبالغه (۳) مطاوعت مجرد (۴) موافقت استفعال.

(۱) لزوم : .. دا باب زیاد تر لازم استعمالیږی لکه اَلْاِحْدِيْدَابُ ( په معنی د شاه تیټے کیدل( چی د چا ملا کږه وی ) کله کله متعدی هم استعمالیږی لکه اِحْلَوْلَيْتُهٗ ( ما هغه خوږ اوګڼړۀ ).

(۲) مبالغه : .. په دے باب کښې مبالغه کښې په کثرت سره موندلے کیږی لکه اِغْشَوْشَبَتِ الْاَرْضُ (زمکه ډیره شنه ګوشنه او سرسبز شوه ) ددے ماده غُشْبٌ ده (په معنی د شنے ).

(۳) مطاوعت مجرد : .. یعنی د ثلاثی مجرد مطاوع کیدل لکه ثَنَيْتُ الثَّوْبَ فَاثْنَوْنٰى ( ما کپړه راونغخته پس هغه راونغختلے شوه ).

(۴) موافقت استفعال : .. یعنی د باب استفعال په معنی کښې استعمالیدل لکه اِحْلَوْلَيْتُهٗ ( ما هغه خوږ اوګڼړۀ ) دا د اِسْتَحْلَيْتُ باب استفعال په معنی کښې دے. دا آخری دواړه خواص په دے کښې دیر کم موندلے کیږی.

(۱۲) د باب افعوال خاصیات : ددے درے خاصیات دی.

(۱) اقتضاب (۲) مبالغه (۳) لزوم.

(۱) اقتضاب : .. لغت : کښې پریکول ، اصطلاح : کښې یو فعل د مجرد نه بغیر ابتداءً د مزید فیه نه استعمالول دے ته مُرْتَجَلْ هم وئیلے کیږی لکه اَلْاِجْلِوَّاذُ (بنۀ تیز تلل ) ددے مجرد نۀ دے موجود .

**سوال** : .. اقتضاب او ابتداء کښې څۀ فرق دے ؟

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب :** ... دے دواړو کښې فرق دا دے چې **مُقْتَضَبْ** (يعنې په کوم باب کښې چې د اقتضاب خاصيت وی) د هغے ماده د مجرد نه بلکل نۀ راځي حالانکه د بتداء ماده کله کله د مجرد نه استعماليږی خو ليکن په مجرد کښې چې کومه معنی وی هغه په مزيد فيه کښې نۀ راځي.

**(۲) مبالغه :** ..دا خاصه په دے باب کښې ډيره کمه موندلے کيږی ددے مثال اَلْاِجْلِوَّاذُ دے.

**(۳) لزوم :** ..دا باب اکثر لازم استعماليږی او کله کله متعدی هم راځي لکه اَلْاِعْلِوَّاطُ (د اوښ په څټ پورے اويزانده کيدلو سره سوريدل).

## ختم شد ثلاثی مزيد فيه

★★★

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

## رباعی مجرد

### د باب فَعْلَلَةٌ خاصیات :

ددے خواص ډیر زیات دی چې د هغے راجمع کول ګردان دی خو مشهور خواص دا دی(۱) قصر(۲) الباس ماخذ (۳) اتخاذ (۴) تعمل (۵) مطاوعت خود.

(۱) قصر : ... لکه بَسْمَلَ ( بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ لوستل ) حَمْدَلَ ( اَلْحَمْدُ لِلّٰه لوستل ).

(۲) الباس مأخذ : .. لکه بَرْقَعْتُهَا ( ما هغهٔ ته برقع واچوله ) ددے مأخذ بُرْقَعٌ دے ( په معنی د برقع ).

(۳) اتخاذ : .. لکه قَنْطَرَ ( هغه پُل جوړ کړو ) ددے مأخذ قَنْطَرَةٌ دے په معنی د پل دا د مأخذ د جوړولو او ایجاد کولو مثال دے.

(۴) تعمل : .. لکه زَعْفَرْتُ الثَّوْبَ ( ما کپړے تـه د زعفران رنګ ورکړو ) ددے مأخذ زعفران دے.

(۵) مطاوعت خود : .. یعنی په خپله د خپل ځان مطاوع کیدل غَطْرَشَ اللَّیْلُ بَصَرَهٗ فَغَطْرَشَ ( شپے د هغهٔ سترګو ته تیارهٔ جوړه کړه پس هغه تورے شوے ) دلته دواړه افعال هم ددے باب نه دی رومبے فعل مُطَاوَعْ او دویم مُطَاوِعْ دے

فائده : .. فعللة باب اکثر صحیح او مضاعف راځی مهموز او معتل کم استعمالیږی د صحیح مثال لکه بَعْثَرَ دَحْرَجَ د مضاعف مثال لکه وَسْوَسَ زَلْزَلَ د مهموز مثل لکه طَمْاَنَ دا مهموز اللام دے چی د رومبی لام په ځائے همزه ده او وَسْوَسَ دا مضاعف هم دے او معتل هم.

## خاصیات ابواب رباعی مزید فیه

### (۱) د باب تفعلل خاصیات : .. ددے درے خاصیات دی.

(۱) مطاوعت فعلل (۲) اقتضاب (۳) تحول.

(۱) مطاوعت فعلل : .. یعنی باب فعلل مطاوع کیدل لکه دَحْرَجْتُهٗ فَتَدَحْرَجَ ( ما هغه اوخوزه وو پس هغه اوخوزیدهٔ ).

(۲) اقتضاب : .. لکه تَهَبْرَسَ ( ناز سره تلل ) ددے مجرد نهٔ دے موجود.

(۳) تحول : .. لکه تَزَنْدَقَ (زندیق یعنی بے دینه کیدل ) ددے مأخذ زَنْدَقَةٌ دے ( په معنی د بے دینئ ).

### (۲) د باب افعنلال خاصیات : .. ددے باب هم درے خاصیات دی.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) لزوم (۲) مطاوعت فعلل (یعنی د رباعی مجرد مطاوع کیدل) (۳) ارتجال یعنی اقتضاب :

(۱) لزوم : مثال لکه اِبْعَنْجَرَ اِبْعِنْجَارًا (بهیدل).

(۲) مطاوعت فعلل : مثال لکه بَعْجَرْتُهٗ فَابْعَنْجَرَ (ما د هغهٔ وینه اوبهوله پس هغه اوبهیدله).

(۳) ارتجال : .. لکه اَلْاِعْرِنْفَاطُ (منقبض کیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل.

د باب افعلال خاصیات : ددے هم د باب افعنلال په شان هم دغه درے خاصیات دی.

(۱) لزوم، (۲) مطاوعت فعلل (۳) اقتضاب.

(۱) لزوم : ..لکه اَلْاِطْمِئْنَانُ (مطمئن کیدل).

(۲) مطاوعت فعلل : ..لکه طَمْاَنْتُهٗ فَاطْمَئَنَّ (ما هغه ته اطمینان ورکړو پس هغه مطمئن شو).

(۳) اقتضاب : ..لکه اِکْفَهَرَّ النَّجْمُ (سخته تیارهٔ کښې ستورے روښانه شو) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل.

**تنبیه** : ..دا خو د هغه بابونو د خاصیاتو بیان وو کوم چې غیر ملحق دی باقی څومره پورے چې د ملحق بابونو تعلق دے نو په هغے کښې د هر یو باب هم هغه خاصیات دی کوم چې د هغے د ملحق به باب دی. مثلاً د رباعی مجرد باب فعلل خاصیات، قصر، اِلباس، مأخذ، اتخاذ، تعمل وغیره دی نو دے سره چې کوم اووهٔ بابونه ملحق دی د هغے هم دغه خاصیات دی، د باب تفعلل درے خاصیات دی (مطاوعت فعلل، اقتضاب او تحول) نو درے سره چې کوم اتهٔ بابونه ملحق دی د هغے هم دغه درے خاصیات دی څنګه چې تاسو په علم الصیغه کښې اولوستل چې د ملحق باب هم هغه خواص راځي کوم چې د هغے د ملحق به باب راځي، یعنی ملحق او ملحق به دواړه په خاصیاتو کښې متحد دی، البته په ملحق بابونو کښې اکثر څهٔ مبالغه هم راځي اګر چې ملحق به بابونو کښې مبالغه نهٔ وی لکه حَوْقَلَ (ډیر زیات بوډ ها کیدل) جَهْوَرَ (آواز اوچتول) دا دواړه بابونه فعلل سره ملحق دی چې ددے په معنی کښې مبالغه موجود ده.

**اعتراض** : ..اَلْجَوْرَبَةُ (په معنی د جرابے اچولو) اَلْقَلْنَسَةُ (ټوپۍ په سر کول) دا ملحق بابونه دی لیکن په دے کښې خو مبالغه نشته نو دا خبره صحیح نهٔ شوه چې ملحق بابونو کښې مبالغه راځي ؟

**جواب** : ..ملحق بابونو کښې خو مبالغه موندلے کیږي خو لیکن هغے سره مبالغه لازم

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ ده چې ملحق باب به بغير د مبالغے نه هډو موجود نۀ وي بلکه په ډيرو ملحق بابونو کښې مبالغه نۀ موندلے کيږي دے وجے نه مونږ د اکثر قيد اولګوو چې ملحق بابونو کښې اکثر څۀ مبالغه هم وي نو اشکال رانغلو۔

**ختم شد**

☆☆☆

## د بابونو خاصيات د نقشو په ژبه کښې

د ثلاثي مجرد بابونو خاصيات

| باب | خاصيت | معنى و تعريف خاصيت | مثال |
|---|---|---|---|
| نَصَرَ يَنْصُرُ | مبالغه | د باب مفاعله نه پس يو فعل په دے غرض سره راوړل د هغے په ذريعے سره فريقينو کښې د يو غالب راتلل ښکاره شي۔ | خَاصَمَنِيْ زَيْدٌ فَخَصَمْتُهٗ (زيد ما سره جګړه اوکړه پس زۀ جګړه کښې په هغۀ باندے غالب راغلم)۔ |
| ضَرَبَ | مبالغه از مثال واوى و يائى و اجوف يائى، ناقصيائى۔ | | يُوَاعِدُنِيْ زَيْدٌ فَاَعِدُهٗ (زۀ او زيد خپلو کښې وعده کوو پس زۀ په دے کښې په هغۀ باندے غالب راځم) |
| سَمِعَ | بيمارئ، غم، خوشحالئ، رنګ وعيب او جسمانى کيفيت باندے دلالت کولو والا الفاظ | کوم الفاظ چې بيمارئ، غم، خوشحالئ، رنګ وعيب او جسمانى کيفيت باندے دلالت کوى هغه اکثر ددے باب نه استعماليږي۔ | سَقِمَ (بيماريدل) فَرِحَ (خوشحاليدل) حزن (غمژن کيدل) سود (توريدل) عور (کانړا کيدل) بلج (فراخه تندى والا کيدل)۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَتَحَ يَفْتَحُ | حلقي العين يا حلقي اللام کیدل | ددے باب نه صرف هغه الفاظ راځي چې د هغے د عين يا لام کلمے په ځائے باندے حرف حلقي وي. | ذَهَبَ يَذْهَبُ ، وَضَعَ يَضَعُ |
| كَرُمَ يَكْرُمُ | فطري او پیدایشي صفاتو باندے دلالت کولو والا الفاظ. | کوم الفاظ چې خلقي او پيدائشي صفاتو باندے دلالت کوي هغه ددے باب نه استعماليږي | قَبُحَ (بد شکله کیدل) حَسُنَ (ښائسته کیدل) شَجُعَ (بهادر کیدل). |
| حَسِبَ يَحْسِبُ | د يو څو مخصوص الفاظو استعمال | صرف يو څو د شمير الفاظ ددے باب نه استعماليږي چې په هغے کښې صرف دوه الفاظ د صحيح دي (حسب ، نعم) باقي معتل دي. | وَمِقَ ، وَبِقَ، وَثِقَ، وَفِقَ، وَلِيَ ، وَرِثَ، وَرِعَ ، وَرِمَ ، وَرِيَ، وَغِرَ، وَجِرَ، وَلِهَ ، يَبِسَ وغيره. |

د ثلاثي مزيد فيه بابونو خاصيات : د باب افعال خاصيات ـ ددے پينځلس خاصيات دي.

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| (۱) | تعديه | د فعل لازم نه متعدي جوړول | خَرَجَ (وتل) ددے نه أَخْرَجَ (په معنى د ویستلو) |
| (۲) | تصيير | څۀ څيز صاحب مأخذ يعني مأخذ والا جوړول . | أَشْرَكْتُ النَّعْلَ ( ما د تسمے والا پنړه جوړه کړه ) دلته مأخذ شِرَاك دے ( په معنى د تسمے ) |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۳) | الزام | فعل متعدی نه لازم جوړول | حَمِدَ حَمْدًا : تعریف کول ، دا متعدی دے اَحْمَدَ اِحْمَادًا ۔ قابل تعریف کیدل ۔ دا دے نه لازم جوړ شو۔ |
| (۴) | تعریض | څۀ شے د مأخذ په ځائے او محل کښې راوړل۔ | اَبِعْتُ الْفَرَسَ ۔ ما اس د خرڅولو ځائے ته راوستۀ یعنې منډئ ته۔ مأخذ بَیْعٌ ده ددے ځائے منډئ ده او فرس شے دے۔ |
| (۵) | وجدان | څۀ شے مأخذ سره متصف بیاموندل | اَبْخَلْتُ زَیْدًا ۔ ما زید بخل سره متصف بیاموندۀ۔ دلته شے زید دے او مأخذ بُخْلٌ دے۔ |
| (٦) | سلب مأخذ | د څۀ شے نه مأخذ لرے کول | اَشْکَیْتُ زَیْدًا ( ما د زید شکایت لرے کړو) دلته شے زید دے او مأخذ شکایت دے۔ |
| (۷) | اعطاء ماخذ | څۀ شے ته مأخذ ورکول | اَعْظَمْتُ الْکَلْبَ ( ما سپی ته هډوکی ورکړو)په دے کښې کلب شے دے ،عَظْمٌ(هډوکے) مأخذ دے |
| (۸) | بلوغ | مأخذ ته رسیدل یا مأخذ ته راتلل | اَعْرَقَ بَکْرٌ (بکر عراق ته اورسیدۀ )دلته مأخذ عراق دے۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۹) | صیرورت | صاحب مأخذ کیدل یعني مأخذوالا کیدل | اَلْبَنَتِ الشَّاةُ ( چیلۍ د پیو والا شوه ) دلته مأخذ لَبَنٌ دے (په معنی د پیو) |
| (۱۰) | لیاقت | د مأخذ مستحق کیدل | آلَامَ الرَّجُلُ (سړے د ملامتیا قابل شو) دلته مأخذ لُوْمٌ دے په معنی د ملامتیا۔ |
| (۱۱) | حینونت | د مأخذ وخت ته رسیدل | اَحْصَدَ الزَّرْعُ (فصل د پریکولو وخت ته اورسیدهٔ) دلته مأخذ حَصَاد دے په معنی د پریکولو۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱۲) | مبالغه | په مأخذ کښې کثرت او زیادت موندل | أَثْمَرَ النَّخْلُ (کجورے په اونه کښې ډیره میوه اوشوه) دلته مأخذ ثَمَرٌ دے په معنی د میوے |
| (۱۳) | ابتداء | یو فعل د مجرد د استعمالولو نه بغیر ابتداءً دد بے باب نه راوړل | |
| (۱۴) | موافقت | یو فعل د بل فعل په معنی کیدل۔ دا د ثلاثی مجرد، تفعیل، تفعل او استفعال موافق راځی۔ | أَرْقَلَ (تیزی کول) دا مجرد کښې نهٔ دے مستعمل۔ |
| (۱۵) | مطاوعت | د یو فعل نه پس دویم فعل دے دپاره راوړل چی دا معلومه شی چی د رومبی فعل د فاعل اثر مفعول قبول کړے دے، باب افعال، ثلاثی مجرد او باب تفعیل مطاوع راځی۔ | أَدْجَى اللَّيْلُ (شپه توره شوه) دا د دَجَى اللَّيْلُ ثلاثی مجرد په معنی کښې دے۔ |
| | | | كَبَبْتُ الْإِنَاءَ فَأَكَبَّ (ما لوخے الوړے کړو پس هغه الوړے شو) او بَشَّرْتُ زَيْدًا فَأَبْشَرَ (ما زید ته خوشخبری ورکړه پس هغه خوشحاله شو)۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

## د باب تفعیل خاصیات ـ ددے دریارلس خاصیات دی

| نمبر شمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| (۱) | تعدیه | (ددے تعریف تیر شوے دے) | فَرِحَ (په معنی د خوشحالیدلو) دا لازم دے فَرَّحَ تَفْرِیْحًا (خوشحالیدل) دا ترے متعدی جوړ شو۔ |
| (۲) | تصییر | :::::: | نَـزَّلْتُ زَيْدًا (ما زید صاحب نُزُوْل یعنی کوزیدلو والا جوړ کړو) په دے کښی نُزُول په (معنیٰ د کوزیدلو) مأخذ دے |
| (۳) | سلب مأخذ | :::::::::: | قَـذَّيْـتُ عَيْنَـهُ (ما د هغهٔ د سترگے نه بوسرے (گند) لرے کړو) په دے کښی قَذٰی په معنی (د گند) مأخذ دے۔ |
| (۴) | صیرورت | :::::::::::: | نَـوَّرَ الشَّجَرُ (اونه بورداره شوه) نَوَّرَ ماخذ دے (په معنی د کلئ، بور) |
| (۵) | بلوغ | ::::::: | خَيَّمَ زَيْدٌ (زید خیمے ته راغے) په دے کښی خیمه مأخذ دے۔ |
| (۶) | مبالغه | :::::::::: | قَـطَّـعْتُ الثِّيَابَ (ما ډیرے کپړے پرے کړے) مأخذ قطع دے په معنی د پریکولو۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۷) | موافقت مجرد افعال، تفعل | :::::::::::: | تَمَّرْتُ زَيْدًا (ما زید ته کجورے ورکړے) دا د تَمَرْتُ زَيْدًا ثلاثی مجرد موافق دے، او تَمَّرَ لوندے کجورے اوچے شوے۔ دا د اَتْمَرَ باب افعال موافق دے۔ او تَرَّسَ زَيْدٌ (زید ډهال سره خپل حفاظت اوکړو) دا د تَتَرَّسَ زَيْدٌ باب تفعل په معنی کښی دے۔ |
| (۸) | ابتداء | :::::::::::: | لَقَّبْتُهٗ (ما د هغهٔ لقب کیخودهٔ) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل۔ |
| (۹) | تخلیط | څهٔ څیز مأخذ سره بنائسته کول | ذَهَّبْتُ السَّيْفَ (ما توره سونے سره بنائسته کړه) دلته مأخذ ذَهَبٌ په معنی د سونے دے چی دے سره توره بنائسته کړے شوے ده۔ |
| (۱۰) | تحویل | څهٔ شے مأخذ جوړول یا د مأخذ په شان جوړول۔ | نَصَّرْتُ زَيْدًا (ما د زید نه نصرانی جوړ کړو) شے زید دے مأخذ نصرانی دے۔ |
| (۱۱) | قصر | د اختصار په غرض سره د مرکب نه څهٔ کلمه د مشتق په طرز باندے جوړول۔ | هَلَّلَ زَيْدٌ۔ زید لا اله الا الله اووئیل، په دے کښی لا اله الا الله مرکب ده، ددے نه هَلَّلَ کلمه د مشتق په طرز باندے جوړه کړے شوے ده۔ |
| (۱۲) | نسبت بماخذ | د مأخذ طرف ته نسبت کول | جَلَّلْتُ الْفَرَسَ (ما اس ته زین واچوو) مأخذ جُلٌ دے په معنی د زین۔ |
| (۱۳) | الباس ماخذ | مأخذ اغوستل | |

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

**خاصیات باب مفاعله ـ ددیے صرف دریے خاصیات دی ـ**

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| (۱) | مشارکت | دوه کسان په یو کار په داسے طور باندے شریك کیدل چی د دواړو نه هریو د معنی په اعتبار سره فاعل هم وی او مفعول هم | ضَارَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا (زید او عمرو دواړو یو بل اووهل) دلته زید او عمرو دواړه خپلو کښی په وهلو کښی شریك دی او ددے نه هر یو د صدور فعل په اعتبار سره فاعل دے او د وقوع فعل په اعتبار سره هریو مفعول دے. |
| (۲) | موافقت مجرد افعال ،تفعیل ، تفاعل | ددے تشریح تیره شوے ده | سَافَرَ زَيْدٌ (زید سفر اوکړو) په دے کښی سَافَرَ فعل سفر ثلاثی مجرد په معنی کښی دے. |
| (۳) | ابتداء | ::::::::::::: | اَلْمُتَاخَتَةُ (د زمین حد دویمے زمکے سره متصل کیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل. |

**د باب تفعل خاصیات ـ ددیے یوولس خاصیات دی**

| نمبر شمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| (۱) | مطاوعت تفعیل | ددے تعریف تیر شوے دے | قَطَّعْتُ الشَّيْئَ فَتَقَطَّعَ (ما شے ټکړے ټکړے کړه پس هغه ټکړے ټکړے شو) |
| (۲) | تکلف | خپل ځان په بناوټی او جعلی طور باندے مأخذ سره متصف ظاهرول | تَشَجَّعَ زَيْدٌ (زید په تکلف سره خپل ځان بهادر ښکار کړو) مأخذ شُجَاعَت دے (په معنی د بهادرئ- |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۳) | تجنب | د ماخذ نه پرهیز او اجتناب کول | تَحَوَّبَ زَیْدٌ (زید د گناه نه پرهیز اوکړو) ددے ماخذ حُوْبٌ دے (په معنی د گناه). |
| (۴) | لبس ماخذ | ماخذ اچول | تَخَتَّمَ زَیْدٌ (زید گوتمه واچوله) ماخذ خَاتَم دے (په معنی د گوتمے). |
| (۵) | تعمل | ماخذ په کار کښې راوستل | تَتَرَّسْتُ (ما ډهال په کار کښې راوستهٔ (یعنی دے سره مے خپل حفاظت اوکړو) ماخذ تُرْسٌ دے (په معنی د ډهال) |
| (٦) | اتخاذ | څهٔ شے ماخذ جوړول | تَوَسَّدَ الْحَجَرُ (هغهٔ کاڼړے تکیه جوړه کړه) په دے حَجَرٌ شے دے او وِسَادَةٌ ماخذ دے په معنی د تکیه |
| (۷) | تدریج | څهٔ کار په مزه مزه کول | تَحَفَّظْتُ الْقُرْآنَ (ما قرآن مجید لږ لږ یاد کړو) |
| (۸) | تحول | څهٔ شے ماخذ کیدل یا د ماخذ په شان کیدل. | تَنَصَّرَ الرَّجُلُ (سړے نصرانی شو) په دے کښې رَجُلٌ شے دے او نصرانی ماخذ دے. |
| (۹) | صیرورت | ددے تعریف تیر شوے دے | تَمَوَّلَ خَالِدٌ (خالد د مال خاوند شو) مال ماخذ دے |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱۰) | موافقت مجرد افعال، تفعیل، استفعال | :::::::::::::::: | تَقَبَّلَ (قبلول) دا د قَبِلَ ثلاثی مجرد په معنی کښې دے تَبَصَّرَ (لیدل) دا د أَبْصَرَ باب افعال موافق دے او تَكَذَّبَ (د دروغو طرف ته نسبت کول) دا د كَذَّبَ باب تفعیل په معنی کښې دے او تَحَوَّجَ (حاجت طلب کول) دا د اِسْتَحْوَجَ باب استفعال په معنی کښې دے. |
| (۱۱) | ابتداء | :::::::::::::::::::: | تَـوَيَّلَ (يَـا يَـوَيْـلَتَا وئيل) دے مجرد نۀ دے مستعمل. |

## باب تفاعل ـ ددے پینځه خاصیات دی

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| (۱) | تشارك | ددے هم هغه تعریف دے کوم چې د مشارکت دے. | تَشَاتَمَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو (زید او عمرو یو بل ته کنزل اوکړل) |
| (۲) | تخییل | د خودنے د پاره په دروغه باندے خپل ځان مأخذ سره متصف ښکاره کول | تَمَارَضَ زَيْدٌ (زید خپل ځان بیمار ښکاره کړو) ماخذ مَرَضٌ دے (په معنی د بیمارئ) |
| (۳) | مطاوعت مفاعله، بمعنی افعال | دا سے باب مفاعله مطاوع کیدل چې هغه د باب افعال په معنی کښې وی | بَاعَدْتُهُ فَتَبَاعَدَ (ما هغه لرے کړو پس هغه لرے شو) په دے کښې تَبَاعَدَ باب تفاعل د بَاعَدْتُ باب مفاعله مطاوع دے او بَاعَدْتُ دا د أَبْعَدْتُ باب افعال په معنی کښې دے. |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۴) | موافقت مجرد و افعال | ددے تعریف مخکښې تیر شوے دے | تَعَالٰی (اوچت او پورته کیدل) دا د عَلَا ثلاثی مجرد په معنی کښې دے تَیَامَنَ (یمن کښې داخلیدل) دا د اَیْمَنَ باب افعال موافق دے. |
| (۵) | ابتداء | | تَدَاحَكَ (بے تکلفه کیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل. |

## باب افتعال۔ ددے ټول شپږ خاصیات دی

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| ۱ | اتخاذ | ددے تعریف تیر شوے دے | اَغْتَذَی الشَّاۃَ (هغه چیلئ خپل خوراك جوړ کړو) په دے کښې مأخذ غِذَا ده (په معنی د خوراك |
| ۲ | تصرف | د فعل په حصول کښې کوشش کول | اِکْتَسَبْتُ (ما د مال په حاصلولو کښې کوشش اوکړو) |
| ۳ | تخییر | څهٔ فعل د خپل ځان د پاره کول | اِکْتَالَ (هغهٔ د خپل ځان د پاره کیل یعنی ناپ تول اوکړو) |
| ۴ | مطاوعت تفعیل | ددے معنی تیره شوے ده | غَمَّمْتُهٗ فَاغْتَمَّ (ما هغه غمژن کړو پس هغه غمژن شو) |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | موافقت مجرد افعال، تفعل، تفاعل، استفعال | :::::::::::::::::::::::::: | اِئْتَلَجَ الصُّبْحَ (سحر روښانه شو) دا د بَلَجَ ثلاثي مجرد په معنی کښې دے، اِحْتَجَزَ (حجاز کښې داخل شو) دا د اَحْجَزَ باب افعال موافق دے، اِرْتَدٰی (هغهٔ څادر واغوستهٔ) دا د تَرَدّٰی باب تفعل موافق دے۔ اِخْتَصَمَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو (زید او عمرو خپلو کښې جګړه اوکړه) ذا د تَخَاصَمَا باب تفاعل په معنی کښې دے۔ اِئْتَجَرَ (هغهٔ اجرت طلب کړو) دا د اِسْتَأْجَرَ باب استفعال په معنی کښې دے۔ |
| ٦ | ابتداء | ::::::::::::::::::: | اِئْتَجَزَ (خکته کیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل۔ |

## د باب استفعال خاصیات ۔ ددے لس خاصیات دی

| نمبر شمار | خاصیت | تعریف او خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| ۱ | طلب | ماخذ طلب کول | اِسْتَطْعَمْتُ (ما خوراك طلب کړو) مأخذ طَعَامٌ دے (په معنی د خوراك) |
| ۲ | حسبان | د څهٔ شے مأخذ سره متصف ګنړل | اِسْتَحْسَنْتُهٗ (ما هغه نیك او ښهٔ اوګنړهٔ) ددے مأخذ حُسُنٌ دے (په معنی د نیك او ښهٔ). |
| ۳ | لیاقت | ددے تعریف تیر شوے دے | اِسْتَرْقَعَ الثَّوْبُ (کپړه د پیوند لګولو قابله شوه) ماخذ رُقْعَةٌ دے (په معنی د پیوند) |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | وجدان | :::::::::::::: | اِسْتَكْرَمْتُ زَيْدًا (ما زید کریم یعنی سخی بیاموندهٔ) مأخذ كَرَمْ دے په معنی د سخاوت. نو زید سخاوت سره متصف اوموندلے شو. |
| ۵ | تحول | :::::::::::::::::::::::::: | اِسْتَنْوَقَ الْجَمَلُ (اوبښ د اوښے په شان شو) مأخذ نَاقَةٌ (اوښه) ده او جَمَل (اوبښ) هغه شے دے چې د مأخذ په شان شوے دے. |
| ٦ | اتخاذ | :::::::::::::::: | اِسْتَوْطَنْتُ الْحِجَازَ (ما حجاز وطن جوړ کړو) مأخذ وطن دے. |
| ۷ | قصر | :::::::::::::::::::::::: | اِسْتَرْجَعَ زَيْدٌ (زید اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ اووئیل) په دے کښې انا لله مرکب لفظ دے. ددے نه د اختصار په غرض سره اِسْتَرْجَعَ کلمه جوړه کړے شوے ده. |
| ۸ | مطاوعت افعال | :::::::::::::::: | اَقَمْتُهٗ فَاسْتَقَامَ (ما هغه اودره وو پس هغه اودریدهٔ) په دے کښې اِسْتَقَامَ باب استفعال دے چې دا د اَقَمْتُ باب استفعال مطاوع دے. |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | موافقت مجرد افعال ، تفعل ، افتعال | :::::::::::::::::::::::: | اِسْتَبَانَ اِسْتِبَانَةً ( واضح کیدل ) دا د بَانَ بَیَانًا ثلاثی مجرد په معنی کښې دے ۔ اِسْتَجَابَ (قبلول ) دا د اَجَابَ باب افعال په معنی کښې دے ۔ اِسْتَکْبَرَ (تکبر کول ) دا د تَکَبَّرَ تفعل په معنی کښې دے ۔ اِسْتَعْصَمَ ( مضبوط نیول ) دا د اِعْتَصَمَ باب افعال موافق دے ۔ |
| ۱۰ | ابتداء | ::::::::::::: | اِسْتَاْخَزَ ( په معنی د خکته کیدلو ) ددے مجرد نۀ دے مستعمل ۔ |

**د باب افعلال خاصیات هم دغه دریے دی**

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| ۱ | لزوم | ددے تعریف تیر شوے دے | اَلْاِطْمِئْنَانُ ، مطمئن کیدل ۔ |
| ۲ | مطاوعت فعلل | ::::::::::::::::::::: | طَمْاَنْتُهٗ فَاطْمَاَنَّ ما هغۀ ته اطمینان ورکړو پس هغه مطمئن شو ۔ |
| ۳ | اقتضاب | :::::::::::::::::::::::::: | اِکْفَهَرَّ النَّجْمُ (سخته تیارۀ کښې ستوری اوپرقیدل ) ددے مجرد نۀ دے مستعمل ۔ |

**د ذهن د تازګئ د پاره یو څو سوالات او د هغے جوابات**

**سوال** : .. آیا خاصیات ابواب هم دا دی کوم چې ذکر شو یا نور هم شته ؟

**جواب** : .. نور هم ډیر خاصیات دی چې هغه په مطولات کښې مذکور دی دا خو هغه خاصیات دی کوم چې مشهور او کثیر الوقوع دی ۔

**سوال**: .. په خاصیاتو کښې هغه کوم کوم خاصیات دی چې هغه صرف یو باب سره نۀ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دی خاص بلکه په ډیرو بابونو کښې مشترکه طور باندے موندلے کیږی ؟

**جواب** : .. لاندے ذکر شوے خاصیات دیو نه زیات بابونو کښې مشترك دی.

(۱) مغالبه دا د نَصَرَ او ضَرَبَ دواړو خاصه ده

(۲) تعدیه ، تصییر، سلب ماخذ ، بلوغ دا څلورواړه خواص په باب افعال او تفعیل دواړو کښې موندلے کیږی

(۳) صیرورت دا د باب افعال ، تفعیل ، او تفعل دریواړو خاصه ده.

(۴) وجدان دا د باب افعال او استفعال دواړو خاصیت دے.

(۵) لیاقت دا د باب افعال او استفعال دواړو خاصه ده.

(٦) مبالغه دا د باب افعال و تفعیل و افعلال وافعیلال و افعیعال او افعوال ددے شپږو بابونو خاصیت دے.

(۷) ابتداء دا د باب افعال ، تفعیل ، مفاعله ، تفعُّل ، تفاعل ، افتعال ، استفعال او انفعال ددے اتو بابونو مشترکه خاصه ده . (۸) موافقت دا خاصه په دے نهو بابونو کښې مشترك ده افعال ، تفعیل، مفاعله ، تفعل ، تفاعل ، افتعال، استفعال ، انفعال ، افعیعال .

## باب افعیعال ـ ددے هم څلور خواص دی

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
|---|---|---|---|
| ۱ | لزوم | ددے تعریف تیر شوے دے | اَلْاِخْدِیْدَابُ ( شاتیتے کیدل ) |
| ۲ | مبالغه | :::::::::::::::::::: | اِعْشَوْشَبَتِ الْاَرْضُ ( زمکه ښهٔ سرسبز او شنه شوه) ددے مأخذ عُشْبٌ دے په معنی (د سرسبز) |
| ۳ | مطاوعت مجرد | :::::::::::::::::: | ثَنَیْتُ الثَّوْبَ فَاثْنَوْنٰی ( ما کپړه راتوله کړه پس هغه راتوله شوه ) |
| ۴ | موافقت استفعال | :::::::::::::::::::::::: | اِحْلَوْلَیْتُهٗ ( ما هغه خوږ اوګنړهٔ ) دا اِسْتَحْلَیْتُ باب استفعال په معنی کښې دے. |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

## باب افعوال ددے درے خاصیات دی

| مثال | تعریف خاصیت | خاصیت | نمبرشمار |
|---|---|---|---|
| اَلْاِخْلِوَّاذُ (بنۀ تیز تلل) ددے مجرد نۀ دے موجود. | یو فعل د ابتداء او شروع نه د مزید فیه نه استعمالول د مجرد نه بغیر | اقتضاب | ۱ |
| هم دغه مثال یعنی اَلْاِخْلِوَّاذُ (بنۀ تیز تلل) | ددے تعریف تیر شوے دے | مبالغه | ۲ |
| هم دغه مثال ددے هم دے. | :::::::::::::::::::: | لزوم | ۳ |

## د رباعي بابونو خاصیات

د باب فعلل خاصیات خو ډیر دی خو په دے کښی ډیر مشهور پینځۀ دی

| مثال | تعریف خاصیت | خاصیت | نمبر شمار |
|---|---|---|---|
| بَسْمَلَةٌ (بسم الله وئیل) حَمْدَلَةٌ (الحمد لله وئیل) | ددے تعریف تیر شوے دے | قصر | ۱ |
| بَرْقَعْتُهَا (ما هغے ته برقعه واچوله) مأخذ بُرْقَعٌ دے (په معنی د برقعه) | :::::::::::::::::::::::::::: | الباس مأخذ | ۲ |
| قَنْطَرَ (هغه پل جوړ کړو) مأخذ قَنْطَرَةٌ دے (په معنی د پل) | :::::::::::::::::::::::: | اتخاذ | ۳ |
| زَعْفَرْتُ الثَّوْبَ (ما کپړے ته د زعفران رنګ ورکړو) مأخذ زعفران دے. | ::::::::::::::::::::: | تعمل | ۴ |
| غَطْرَشَ اللَّيْلُ بَصَرَهٗ فَغَطْرَشَ (شپے د هغۀ سترګے تورے جوړے کړے پس هغه تورے شوے). | په خپله د خپل ځان مطاوع کیدل | مطاوعت مجرد | ۵ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

## د باب تفعلل دریے خاصیات دی

| نمبر شمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | مطاوعت فعلل | ددے وضاحت تیر شوے دے | دَحْرَجْتُهٗ فَتَدَحْرَجَ ( ما هغه اوخوزه وو پس هغه اوخوزیدهٔ ) |
| ۲ | اقتضاب | :::::::::::::::::::::::::::: | تَهَمْرَسَ (ناز سره تلل ) ددے مجرد نۀ دے موجود |
| ۳ | تحول | :::::::::::::::::::::::::: | تَزَنْدَقَ ( زندیق کیدل ) ددے مأخذ زندقه دے ( په معنی د بے دین ) ۔ |

## د باب افعنلال دریے خواص دی

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | لزوم | ددے تعریف تیرے شوے دے | اَلْاِثْعِنْجَارُ (بهیدل) |
| ۲ | مطاوعت فعلل | :::::::::::::::: | ثَعْجَرْتُهٗ فَاثْعَنْجَرَ ( ما د هغهٔ وینا اوبهوله پس هغه اوبهیدله) |
| ۳ | اقتضاب | | اَلْاِغْرِنْقَاطُ ( منقبض کیدل ) ددے مجرد نۀ دے مستعمل ۔ |

## د باب افعلال خاصیات هم دغه دریے دی

| نمبرشمار | خاصیت | تعریف خاصیت | مثال |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | لزوم | ددے تعریف تیر شوے دے | اَلْاِطْمِیْنَانُ ، مطمئن کیدل۔ |
| ۲ | مطاوعت فعلل | :::::::::::::::::::::::: | طَمْاَنْتُهٗ فَاطْمَئَنَّ ما هغهٔ ته اطمینان ورکړو پس هغه مطمئن شو۔ |

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | اقتضاب | ............................ | اِكْفَهَرَّ النَّجْمُ (سخته تیارهٔ کښی ستوری اوپرقیدل) ددے مجرد نهٔ دے مستعمل . |

## د ذهن د تازګئ د پاره یو څو سوالات او د هغے جوابات

**سوال** : . . آیا خاصیات ابواب هم دا دی کوم چی ذکر شو یا نور هم شته ؟

**جواب** : . . نور هم ډیر خاصیات دی چی هغه په مطولات کښی مذکور دی دا خو هغه خاصیات دی کوم چی مشهور او کثیر الوقوع دی .

**سوال** : . . په خاصیاتو کښی هغه کوم کوم خاصیات دی چی هغه صرف یو باب سره نهٔ دی خاص بلکه په ډیرو بابونو کښی مشترکه طور باندے موندلے کیږی ؟

**سوال** : . . لاندے ذکر شوے خاصیات د یو نه زیات بابونو کښی مشترك دی .

(۱) مغالبه دا د نَصَرَ او ضَرَبَ دواړو خاصه ده

(۲) تعدیه ، تصییر ، سلب ماخذ ، بلوغ دا څلورواړه خواص په باب افعال او تفعیل دواړو کښی موندلے کیږی

(۳) صیرورت دا د باب افعال ، تفعیل ، او تفعل دریواړو خاصه ده .

(۴) وجدان دا د باب افعال او استفعال دواړو خاصیت دے .

(۵) لیاقت دا د باب افعال او استفعال دواړو خاصه ده .

(٦) مبالغه دا د باب افعال و تفعیل و افعلال و افعیلال و افعیعال او افعوال ددے شپږو بابونو خاصیت دے .

(۷) ابتداء دا د باب افعال ، تفعیل ، مفاعله ، تفعل ، تفاعل ، افتعال ، استفعال او انفعال ددے اتو بابونو مشترکه خاصه ده ـ (۸) موافقت دا خاصه په دے نهو بابونو کښی مشترك ده افعال ، تفعیل ، مفاعله ، تفعل ، تفاعل ، افتعال ، استفعال ، انفعال ، افعیعال ـ

(۹) مطاوعت : . . . دا خاصه په لاندے ذکر شوے یوولسو بابونو کښی موندلے کیږی ، افعال ، تفعل ، تفاعل ، افتعال استفعال ، انفعال ، افعیعال ، فعلل ، تفعلل ، افعنلال ، افعلال ـ

(۱۰) قصر : . . دا د باب تفعیل ، استفعال او باب فعلل دریواړو خاصه ده .

(۱۱) الباس : . مأخذ دا د باب تفعیل او فعلل دواړو خاصیت دے .

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۲) اتخاذ : . . دا خاصیت باب تفعل ، افتعال ، استفعال او فعلل څلوروارو کښې مشترك دے.

(۱۳) تحول : . . دا د باب تفعل او استفعال او تفعلل دریوارو خاصه ده.

(۱۴) لزوم : . . دا ددے اووۀ بابونو خاصه ده انفعال ، افعلال ، افعیلال ، افعیعال ، افعوال ، افعنلال افعلال.

**سوال** : . . هغه کوم خاصیت دے چې د نورو بابونو په مقابله کښې هغه په ډیرو بابونو کښې شریك وی ؟

**جواب** : . . داسے خاصیت مطاوعت دے چې دا په یوولسو بابونو کښې مشترك دے ددے نه پس موافقت دے چې دا په نهو بابونو کښې مشترك دے بیا ابتداء ده چې دا د اتو بابونو مشترك خاصه ده بیا لزوم دے چې دا د اووۀ بابونو مشترك خاصه ده.

تمت خواص الابواب و متعلقاتها بفضل الله تعالی و کرمه جلت الائه و عمت نعماء ه

فله الحمد و الثناء کما هو به جدیر۔

★★★

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com